2 OCT 31
Copy ____ 1958

کابل

پرله پسی گڼه (۴۵۸)

پس له دی می وار دی هر چه شو په میخانه

ډیر عمر مې تیر که بیهوده په زمانه
نور دې زما سروی اود ترکو آستانه

هیڅ مې حاصل نکړه په شیخۍ او په تقوی کښې
پس له دې مې وار دی هر چه شو په میخانه

شیخ و شیخی و ردو وظیفه و ذکر و فکر
زه او ساقی، جام و باده چنګ و ترانه

دا چه زاهد زهد کا د تش جنت دپاره
سر ښندلی نه شی په اور بل د جانانه

کوره د منصور هسې په دار نه شی رحمانه
مکړه دا د عشق خبرې مستې رندانه

624
3
2

د ۱۳۳۷ ش کال دغبرګولی ۱۵ د ۱۳۷۷ ق کال دمیانۍ (۱۷) د ۱۹۵۸ ع کال دجون (۵)

(۲۸ کال) (۶) ګڼه

کابل

پنځلس ورځنی مصوره

اجتماعی ، ادبی ، او تاریخی مجله

دامتیاز خاوند: پښتو ټولنه

د پښتو ټولنی مشر : گل پاچا « الفت »

چلونکی : حبیب‌الله « تبزی »

پته : کابل ـ نادر پښتون واټ دپل خشتی دپله مقابل.

د تیلفون لمبر (۲۱۲۹۱)

په دی گڼه کښې

مضمون	لیکونکی	مخ
۱- آیالومړی دپوهنی او ادب سطحه لوړه کړو او که ئی تصمیم ته ملاوتړو	تیزی	۱
۲- دادب ژوندی تیوری	سعدالدین	۵
۳- د ډرامی تفسیر	دمیر اکبر ترجمه	۱۰
٤- دبیدیدلو او خوب لیدلو په برخه کښی علمی تحقیقات او ژوری څېړنی	دنیازی لیکنه او ترجمه	۱٦
۵- پټه خزانه او دخلکو خبری	الفت	۳۱
٦- دوه غزلونه		۳۲
۷- کتاب	بختانی	۳۳

2006204653

آیا لومړی د پوهنی او ادب سطحه لوړه کړو او که یی تعمیم ته ملا وتړو؟

دا پوښتنه چه ښایی به لومړی نظر کښې به ځینو ښاغلیو ته یوه عادی او ځینو ته هم ډېره سطحی پوښتنه وبرېښی، هغه پوښتنه ده چه دنړۍ ډېرو سترو سترو شخصیتونو هم خبرې پرې کړی او کوشش یی کړی دی چه ځواب ور کړی.

امادا کار ددې معنی نه لری چه دې دلته او یا ماغوندې کوم کوچنی سړی پدغې موضوع نور نه غږیږی. بلکه زه په زغرده سره دا وایم چه یو خو پر دغه ډول حیاتی موضوعاتو باندې هر سړی (که وغواړی او دلاسه ئې وشی) دغږېدو حق لری. بله دا چه دنړۍ په ولسونو باندې دتل دپاره داسې یو بل ته سره ورته دورې راغلی دی چه په دغو دورو یا مرحلو کې هر ولس ته دخپل پرمخ تګ د پاره سره ورته پوښتنې هم پیدا شوی دی.

دا پوښتنه هم یوه له هغو پوښتنو څخه ده چه زه نن خپل ولس ورسره مخامخ بولم او د کابل مجلې په دې ګڼه کښې ورباندی خبرې کوم. پورته پوښتنه ډېر ښه ځواب لری او هغه دادی چه دښاغلی «مائوتسی تونګ» خبره:

«دپوهنې تعمیم پرته دپوهنې دسطحې دلوړولو څخه نه دی.»

ځکه کله که پوهنه تعمیم کیږی هرومرو یې سطحه هم ورسره لوړیږی. مثلاً کوم مهال چه ښاغلی «ګ» خپلو زده کونکو ته یو څه ورزده کوی. په دې کښې هیڅ شك نشته چه دغه ښاغلی پوهنه عامه کړه. مګر په عین همدغه وخت کښې دپوهنې د تعمیم سره د پوهنې سطحه هم لوړه شوه. ولې هغه څه چه دښاغلې «ګ» ددېرش څلو ېښتو تنو شاګردانو نه ؤ زده. اوس ئې زده کړو او علمی ذخیره ئی تر پرون څخه زیاته شوه.

اما ددې خبرې تر څنګه په پورته پوښتنه کښې بیا دا پوښتنه هم پیدا کیږی چه آیا دپوهنې دسطحې لوړېدل تر کومه وخته پورې دپوهنې په تعمیم کښې سر ته رسېدای شی؟

زه خو وایم تر هغه وخته پورې چه داستاد او شاګرد تر منځه دیوه شاګرد او استاد په اندازه تو پیر دتل دپاره پروت وی. البته مطلب زده کونکی او ښونکی څخه. عین ښونکی او عین زده کونکی نه دی. بلکه مطلب په عمومی ډول سره ښونکی او زده کونکی

دی چه دزمانې په تېرېدو یې هرومرو سویه تغییر او تحول کوی .

دمخه مې وویل چه دپوهنې په تعمیم کښې دپوهنې اوچتېدل هغه وخت سرته رسېدلای شی چه د ښونکی او زده کونکی سویې سره دجلا یا په ښکاره ډول سره دښونکی سویه دزده کونکی ترسویې څخه لوړه وی .

ځکه کله که داسې نه وی نو خبره بیا بل راز کیږی. یعنی کله که د ښونکی سویه د تل دپاره دزده کونکی څخه نه وی لوړه نو بیا دښونکی او زده کونکی تر منځ څه توپیر نه سره پاتې کیږی او هغه څه چه دښاغلی «گ» زده وی هغه ئی دزده کونکی هم زده او ښونکی او زده کونکې سره برابرشی ځکه دا هغه مهال نه دی چه دی استاد یو «چل» د همیش دپاره ځانته پټ وساتی.

دلته ده چه د پوهنی د تعمیم سره دپوهنې او چتیدل امکان نه شی پیدا کولای . بلکه په دې صورت کې یو دورانی حرکت منځ ته راځی چه نتیجه یی د سویی په یوه حال پاتی کیدل او سکون دی. ځکه کوم شی چه دښونکی زده وی هغه دزده کونکی زده شی او کوم شی چه دمشرانو زده وی هغه بیا د ښونکو زده شی.

دغه مرحله ده چه مشران او ښونکی ، ښونکی او زده کونکی واړه په یو څو زده خبرو بیا بیا راڅرخی او د مشر او کشر توپیر رټ ورک شی ابتکار له منځه ولاړشی او ډیر زاړه یا عادی موضوعات د ډیر تکرار او ریدلو دلاسه د سړی اعصاب مختل کړی.

زه خووایم چه په مونږ پښتنو کې نن کټ مټ همدغه جریان روان دی ځکه یا کوم هغه شیان چه څو څو کاله د مخه د ځینی څیړونکو او لیکوالانو له خوا ویل شوی او لیکل شوی دی هغه شیان دی چه نن هم وروسته دڅه لاندی باندې کېدو یا په بله ژبه مسخه کیدو څخه بیا بیا خپریږی، او یا هغه خبری دی چه نور ئی اوریدل یا لوستل بر سیره دوخت په ورکیدو دسړی اعصاب هم خرابوی

نن په پښتنو کې پوهنه او ادب هغې مرحلی ته رسیدلی دی چه دمشر او کشر یا ښونکی او زده کونکی تو پیر نه شی پکښې کیدلای .

البته څرنګه چه مو دمخه هم وویل ددغه کار نتیجه یو دورانی حرکت او دابتکار مرګ دی که داسی وی پوهنه او ادب به دتل دپاره لکه ډنډ او به ځای په ځای ولاړ وی تر څو چه بوی وکړی .

داده اوس به نو وروسته دپورته خبرو دڅیړ لو څخه دا خبره منځ ته وغورځوو چه آیا د کابل مجله دی په دی. دوولارو کښی کومه دځان دپاره غوره کړی؟

دپوهنې اوادب تعمیم ته دی بډی و و هی او که دی سطحه ورلوړه کړی ؟

زه خووایم پخوا تر دی څخه چه پورته پوښتنی ته ځواب وکړل شی باید چه خبری لږ څه

سره جلا او یوه دبلی څخه بیله شی.

کله که لږ څه غور و کړو تو به دی خبری ته ور سیږو چه په پوهنه او ادب کښی هم دسیاست په څیر څو دلی خلک موجود وی چه د هری دلی وظیفه ئی هم سره جلا ده مثلاً څنګه چه په سیاست کښی کشران لارښونکی او لارښونکی هم بیا مشران لری، دغه ډول په پوهنه کښی جلا جلا ډلی دی چه ئی د کشرانو لښونکو او مشرانو په نامه سره جلا کولای شو لښونکی مونږ هغه ډله خلک بولو چه د کشرانو څخه برمخ روان دی او مثال یی هم هغه ښاغلی «گ» دی چه د مخه پری وغږیدو.

اما مشران هغه ډله پوهان دی چه د لښونکی دسویی داوچتولو او د پوهنی او ادب دسطحی داورولو دپاره زیار باسی.

دغه ډله خلک دی چه پوهنه او ادب دورانی یعنی هغه حرکت ته نه پریږدی چه نتیجه ئی صفر ده.

البته دغه ډله خلک هم د زمان او مکان دغوښتنو سره سم تو پیر پیدا کوی، چه داده زه ئی په مثالونو سره واضح کوم.

یوه ډله خلک خوهغه ډله خلک دی چه ځانونه یوازی د کلم او پوهنی خاوندان گڼی او غواړی چه هرڅه دخپل کلم او پوهنی په زور سرته ورسوی.

نه داچه تو لنی ته ننوزی او د پوهنی یا ادب دسطحی دلوړولو ترڅنګه دی د پوهنی او ادب تعمیم ته هم ملاوتړی. لکه محمد هوتک او یا سلیمان ماکو.

اما بله ډله خلک هغه خلک دی چه د پوهنی او ادب د سطحی داوچتولو تر څنګه تو لنی ته ورننوځی او د خلکو په روزلو یا د پوهنی او ادب په عامولو باندی هم گوتی پوری کوی. لکه پیر روښان او خوشحال خان ختک.

همدا ډول په دباندینی نړۍ کی «جک لندن» یوازی په همدی بسنه و کړه چه باید د امریکی تولنه د خپل کلم په زور د ادب د نړۍ سره څنګ پر څنګ بدله او د ادب سطحه هم اوچته کړی. مګر «گورکی» د پوهی خوانه د تزاری ادب نړۍ گډوله او غوښتل ئی چه د ادب نوی د نیا جوړه کړی، چه دا خو دده په عقیده د زمانی غوښتنی سره سم د ادب او پوهنی دسطحی لوړول ؤ. او له بلی خوا دی پخپله هم تولنی ته نتوتلی او د پوهنی د تعمیم د پاره په ډیرو ښکته طبقو کښی هم په هڅه کښی ؤ.

داؤ د خبرو جلا کول او یو دبلی سره بیلول چه ما د مخه ورته اشاره و کړه او ومی ویل چه پخوا ددی پوښتنی د ځواب څخه چه کابل مجله دی د پوهنی او ادب تعمیم او مړی کار و گڼی او که ئی اوچتول، باید خبری څه نه څه سره جلا او یوه دبلی څخه بیلی شی.

داده اوس نو وروسته د خبرو د سره جلا کولو څخه بیر ته خپلی هغی پوښتنی ته راځو چه کابل مجله دی له دی دوولا رو نه کومه یوه د ځان دپاره غوره کړی.

دلته په ډیر تأسف سره باید ووایم چه په پښتنو کښی دسیاست په څیر د ادب او پوهنی

له مخې هم دخلکو سره چلا کول او په هغو کښې بیا دزده کونکی او ښوونکی یا ښوونکی او مشر په نامه ډلی جوړول څه آسان کار نه دی.

ځکه یا به په پښتنو کښې رښتیا هم د مشر تا به ور مشران نه وی او یا به داوی چه څوك مشران نه منی او هر سړی ځان «من» بولی. ښه! نو سره له دې بیا هم کابل مجله باید څه وکړی؟ زه خو وایم چه کابل مجله باید د پوهنې او ادب سطحه لوړه کړی. ځکه دپښتو نخوا په خپرونو کښې کابل مجله هغه بواز ینی مجله ده چه د پښتو ژبې د پوهنې او ادب د مرکز یعنی پښتو اکاډمي څخه خپریږی.

اما ددی خبری تر څنګه باید سمدستی دا خبره هم یاده شی چه ما له یوی خوا د پوهنې او ادب د سطحې لوړول د مشرانو وظیفه و ګڼله او له بلې خوا مې دا هم و منله چه په پښتو کښې د مشرانو او کشرانو چلا کول په آسانه له سره کیږی، ځکه هلته هر سړی وایی چه زه یم.

نو له دی امله کابل مجلې ته د پوهنې او ادب د سطحې د لوړولو د وظیفې ورسپارل هم ګران برېښی او سړی دی ته راولی چه باید ووائی: «نه پوهیږم چه څه وکړو؟»

البته ما خو بخپله وویل چه باید کابل مجله د پوهنې او ادب سطحه لوړه کړی تر څو چه پښتانه ددې دورانی حرکت نه لږ څه بهر شی. اما له دې خبرې سره دا یو پښتې هم منځ ته راځي چه:

آیا د کابل مجلې خپرونې به رښتیا هم د پښتنو د پوهنې او ادب د مشرانو خپرونې دی او که یه؟

آیا دا مجله د پښتنو په منځ کې رښتیا هم ترتو لو نه در نه مجله او لیکنې ئې هم او مړی درجه لیکنې دی، او که څنګه؟ که دی پښتانه به ئې څنګه ومنی او که نه دی نو څنګه کېدای شی؟ اوس نو خو ښه د ښاغلو لوستونکو چه دوی څه وایی:

«تبزی»

سعد الدین

دادب ژوندی تیوری

په (٤٥٦) گڼه کښې ما خبره دلته پرې ایښې وه چه اجتماعی تاثیرات او تجربی ادب لکه لاتو پخپل مرام ورڅرخوی اما دا تجربی او تاثیرات پخپله هم تغییر کوی چه ادیب دغه تجربې د ژبی په جامه کښې پټوی او بیائی د تخیل په رنگ رنگینوی او ټولنی ته ئی دیوه گلالی او بکرشی په توگه ورسپاری :

خوددې دپاره چه ادیب داشی میدان ته راو باسی لیکونکی ته دوه نورشیان هم ورته ضروری دی او مړی یو فلسفی نظر دی چه هر څوك ئی په لږو ډېر مشابه ډول لری ځکه هر څوك په عمومی اخلاقی او اجتماعی قیمتونو لږو ډېر خبروی، هر څوك پوهیږی چه پر ځان ویسا، خلکو ته بدنه رسول او بشری فضایل ښه دی. نو لیکونکی هم د خپل کلچر سره سم همداسی یوه عمومی فلسفه او کړنلار لری.

خو یوا ځی عمومی فلسفه دلیکونکی دپاره کافی نه ده که څه هم چه لازمه ده، بلکه دا کار یوه نقشه غواړی دا نقشه هغه ډول ده لکه چه یو عالم ئې دخپل ځانته علم په څانکه کښې لری.

دلیکونکی نقشه له څه نه جوړیږی؟ د بشری مبهمو کردار وسره آشنائی، د بصیرت چټکتیا او موشگافی، دخلکو د نریو نریو احساساتو پیژندنه، په زړو او پټو عنعناتو او دټولنی په تاریخ په تیره بیا دتاریخ په احساساتی او بحرانی برخه کښې وار دیدل او د ترکیب او تحلیل په تخنیك ځان پوهول. دا ټول دادیب د نقشی مواد گڼل کیږی. ددې څخه دا نتیجه لاس ته راځی چه ادب تش په دې میدان ته نه راوځی چه هر سړی دې احساساتی شی، کلم او کاغذ دې را واخلی او لیکل دې په اتوماتیکی توگه سره اجرا کړی. بلکه ادب هم لکه مجسمه جوړول، رسامی او نور هنرونه شعوری دقت ته اړه لری.

خلك وائی رومی مولینا (جلال الدین) د زړه په سوز مثنوی لیکلې او قافیې یې کله کله درستی نه برابرولی، بلکه دده مثنوی یوازې دتصوف دهیجان او وحدت الوجود په سوق داډول ښکلی برېښی رښتیا چه مولینا ډېر کله خپل اشعار دا حساساتو نه ډك او دنظم دشعوری قواعدو څخه خالی لیکلی، خو که-

«کار پاکان را قیاس از خود مگیر
گرچه باشد در نوشتن شیر شیر
آن یکی شیر است کادم میخورد
وآن یکی شیر است کادم میخورد
آن یکی شیر است اندر بادیه
وآن یکی شیر است اندر بادیه»

ولولونو به پوه شو چه مولینا په لیکلو کې نه یوا ځی ادبی لفظی او معنوی صنعتونه توجه

لرله بلکه قوی لاس ئې هم پکښې لاره . ددې دپاره چه خوشحال دا خپل شعر :

«دافغان په ننګ مې وتړله توره
ننګیالي دزمانې خوشحال ختک یم)

ولیکی یوالحی دده پښتنی فلسفه او روح کافی نه وو بلکه دده ادبی شعوری پوهه ضرور وه . لحکه نوروغازیانو لکه اکبرخان محمدجانخان او محمدایوب خان هم همداد خوشحال روح او فلسفه لرله خو هیڅ یوه کوم ادبی اثر نه دی لیکلی، نوښکاره ده چه غیر له عمومی فلسفی یوه شخصی شعوری پوهه اوذوق هم دلیکونکی خاصه ده .

پخوا موویلی و و چه ادب یوه اجتماعی مؤسسه ده . اوسنی اجتماعیون د مؤسسې نوم دومره نه خوښوی لحکه دمؤسسی دنامه سره سم سړی ته یومشخص او ثابت شی ورپه یادشی نو کوم وخت چه ووایو پلانکی مؤسسه د تغییر په حال کښې ده داسی ښکاری چه مؤسسه لکه موتر د یو مشخص لحای په نسبت تغییر کوی. یا داچه تغییر لکه یوخارجی شی مؤسسې ته ورننوت حال داچه تغییر یوخارجی شی نه بلکه دهرې مؤسسی خاصه او جزء دی .

نوښه داده چه دمؤسسی په لحای حادثه ووایو لحکه پخپله حادثه دتغییر سره مراد فه ده نوادبی مؤسسه یاادبی حادثه هم په مداوم صورت دتغییراو تجدید په لاره روانه ده ادب په خلا کښې او دملکو له خوا نه لیکل کیږی . لیکونکی دتولنې سره یو ره آشنائی لری دی پوهیږی چه دده دا اثر کرمه برخه د تغییر یدونکی تولنې په ذوق نده برابره نوهغه سمدستی محوه کوی . د ایتالیې یوشاعر (ورجیل) نومیده . کوم وخت چه دی مړ کیده نو غوښتل ئې چه د خپلو اشعارو یوه برخه وسو لحوی لحکه ده ته ضعیف ښکاریدل یعنې دتولنې دادبی معیارشخه ئې توبیرلاره . هر لیکونکی پس له لیکلو بیرته پخپلو لیکنو نوی نظر کوی ، لحینی برخې ترې وباسی اوشه نورې پرې زیاتوی، لکه باغوان همیشه دخپل ادب په صفائی کښې زیار باسی، حساس لیکونکی په خپل اثر کښې هغه عناصر پیژنی چه د ده ادبی معیار پرې تیټیږی ددغه ډول لیکو نکو د لیکنو سیمه همیشه تنګه او محدوده وی او لیکنې ئې هم لږوی دتولو کلچرو نو په ادب کښې دامحدودیت اواختصاص دهغو اوبوآرزو کانو نتیجه ده چه لیکونکی ئې دښه توب او تازه کی دپاره لری .

نو کورو چه ادب همیشه نوی کیږی. خو دا تجدید او تغییر همیشه په شعوری توګه کیږی اقتصادیون ګروه لری چه دهیوادونو اقتصادی سیستم په لاشعوری ډول تغییر کوی تاریخ له تولنو بحث کوی خو وائی چه دتولنې دمؤسسو تغییر نه د خلکو په آرزوپوری تړلی دی بلکه په طبیعی صورت په یوه معین لوری روان دی چه سمت ئې دپر وخت دخلکو له شعوری توقع شخه مخالف وی خو ادب لکه اقتصاد او تاریخ نه دی . ادب هنر دی نه علم او همیشه دخلکو په

شعوری خط السیر روان دی محال دی چه تو لنه یوراز ادب وغواړی او لیکونکی بل راز ادب ولیکی .

دتولنې ادیب نه یواځی خلکو ته هغه شی لیکی چه دوی ئې ورنه په شعوری ډول غواړی بلکه هغسی شیان ورته لیکی چه دخلکو روح اوزړه ئې خو ښوی آرزو گانې، اسرې پټی مینی او ډېر هغه شیان چه مذهب یا لوړې طبقی یا نورو عواملو وگړونه منع کړی .

لیکونکی دا کار په شعوری ډول کوی نه په غیر شعوری ډول . تجدید هم په ادب کښې په شعوری ډول راځی. په غربی او شرقی ادبیاتو کښې اوس لیکونکو دخلکو په ژبه غږېدلو ته مراجعه کړې خو دغه کار هم یو ادبی تخنیك غواړي . هر څوك دخلکو په ژبه غږېدلی شی خو دخلکو دژبې لیکل آسانه کار نه دی ځکه دعادی خلکو او منورو خلکو (چه ادب هم دوی ته او ددوی له خوا لیکل کېږی) په منځ کښې دومره فکری او احساساتی فرق شته چه ادیب مجبور دی د خلکو په ژبه غږېدو دپاره یو غوره تخنیك ولری . دبېرته پاتې او غیر صنعتی خلکو یواځنی ادب هماغه دعامه (FolkLiteratur) دی .

دا ادب په پېړیو پېړیو هماغلته راغونډېږی ، دا ادب د کوم معلوم ادیب محصول نه وی او ددوی د اشعارو اصلی څښتن ښکاره نه وی .

د پښتو لنډۍ ددغسې ادب ښه مثال گڼل کېدای شی . دا لنډۍ دتولې (لری او برې) پښتونخوا مال دی هرچاله خپلو تجربو او احساساتو یو څه پرې زیات کړی دی دا دب منقدان په دغسې ادب کښې یو راز سادگی پاکی او سپېڅلتوب گوری چه هېڅ کله په هغه ادب کې چه اکثر اوسنی لیکونکی ئې دعامه ادب په نامه لیکی، نه لیدل کېږی

په اتلسمه پېړۍ کښې په اروپا کښې خلکو دعامه ادب ډېره ستاینه کوله اودې ادب ته دبېرته تلو یو شدید تمایل پیدا شوی وو. گویته (المانی شاعر) به همېشه د یو گوسلاو محلی سندرو ته په خوشالۍ او حیرت کتل ددی بېرته تگ علتونه باید د هغه وخت په فلاسفه وو عمومی افکارو او صنعتی موقعیتونو کښې و لټول شی دفرانسې ستر لیکونکی او فیلسوف (ژان ژاك روسو) په طبیعت او طبیعې انسان مین وو او همېشه به ئې د (یو شریف بدوی انسان) ستاینه کوله .

اوس نو گورو چه یوه قوی تلوسه د طبیعی ژوند د پاره په اروپا کښې راژوندۍ شوې وه. دوی به ویل چه نېك مرغی او سعادت دطبیعت سره وی . د کلیو ژوند صمیمې او ساده او دښار ژوند متکلف او ستړی کوونکی دی. په همدې لړ کښې تولستوی دار وپائی بز گرانو دروح او ادب په ژوندی کولو کښې هڅه وکړه .

که ترا تلسمی پېړۍ پخوا لاړشه یعنی د میلاد په لومړنیو دوپېړی کښې یو بل شان تمایل داروپا په ادب کښې گورو چه هغه دجگړنو او قهرمانانو ستاینه

کوی. دادور دقهرمان پرستۍ اواتل خوښولو دوروو . دادوره لګه د روستنۍ دورې چه پکښې امرایالوړه طبقه پرادب حکومت کوی داسې نه وه بلکه شعراؤ به طبیعی قهرمانی او یوه جسمی پهلوانی ستایله.

ددې ادبی میلانونو او تجدد په لړ کښې تجربه هم زیاته شوې اوهغه دفروید دیسیکوانالایز Paychonalysis یعنی روحی تحلیل اغیزه ده چه ډېر لیکونکی ئې تر تأثیر لاندې تللی دی . دا لیکونکی بشری احساسات دهغه جنسی امیالو له لارې تمثیلوی چه په ټولنه کې ئې مجرانده موندلی. دجېمس جایس (یولی سیز) ددې لیکنو یوه ښکاره نمونه ده. ددې لیکونکو په نظر اخلاق دجنسی جریان دمخ نیوی دپاره یو دېوال دی. او داسې یوه اتکړۍ ده چه شهوت خپل طبیعی لارې ته نه پرېږدی. دوی وائی چه اخلاقی قوانین په خلکو تحمیل شوی دی او ډېر داسې کېږی چه ددوی دسمو او طبیعی آرزو ګانو سره مطابقت نلری.

دخلکو ادب ته مراجعه ، اتل پالونکی ادب، طبیعت ته بیرته تګ او دجنس له لیاری احساسات تمثیلول داټکی ثابتوی چه ادب همېشه تجدد ته اړدی او که دا تجدد په ادب کښې رانه شی نو دیوه کلچر ادبی تجربې ورځ به ورځ زړېږی او دځغلا ساحه ئې تنګېږی مګر دلته باید یوه ټکی ته پام وشی او هغه داچه پورته یادی شوی خبری واړه تغییرونه دی. ځکه لوی تغییرونه هغه دی چه موپخوا تردی یاد کړی و و لکه دمنځنۍ دلې میدان ته راوتل، دکار ګرو او ښځو نهضت دادواړه تغییرونه تو پیر سره لری ځکه داواړه تغییرونه دیوه ادب دجریان سمت نه بدلوی بلکه پخپله دلویو تغییرونو مشتق او تر تاثیر لاندی دی.

پخوا تردی چه یوه ادب ته یو متکامل او پوخ تخنیک راشی کیدی شی چه هر ډول انفرادی زیارونه او شاهکارونه بې ثمره او دکمره ګل دګل په څېر ابته پاتې شی، او کومې تجربې چه په ادبی سیمه کښې دیوه ملت په برخه کېږی ډېر ژرمړی او له مینځه ولاړی شی. دټولنی دادبی معیار دجګوالی دپاره دهغې ټولنې دنورو اجتماعی مؤسسو (حادثو) دمعیار جګوالی ضروری دی . یوه بېرته پاتې ټولنه دژوندی او عالی ادب میرمن کېدای نشی . ځکه که دټولنې په عمومی کلچر کښې تکامل راشی نو په ادب کښې هم ضرور انعکاس کوی خو یواځی ادب داقدرت نلری چه پخپله پرمخ ولاړ شی او ټولنه ترشا پرېږدی درسته ده چه دهر عصر لیکوال ترخلکو مترقی وی خو دافاصله (دلیکونکی او خلکو ترمینځ) تر یوه معین حده رسیدی شی اوس که له هغه حده تجاوز وکړی دده آثار په خپلې ټولنې کې څوک نه لولی. همداوجه ده چه دیوه ناقص کلچر منور خلک دخپل ادب په وړاندی بیولو دومره بریالی نه وی .

پخوامو ویلی وو چه تجربه دادب مواد ګڼل کېږی. دادب دمانۍ دپاره غیرله مواد و

اسباب او تخنیکی آلات هم یکار دی . کلمات او لغات د خپلو حقیقی ' هیجانی او احساساتی معناگانو سره د ادب دمانۍ تخنیکی اسباب او آلی شمیرل کیږی .

نو دژبې شتمنی او ارتجاعیت (دنو و مفهو مونو دپاره دلغت چوروالو او دمر کبو جملو دجوړ و لو استعداد) دادب په ښکلا بیشا نه تأثیر اری . ژبه او ادب سره یوشی نه وی خو په کمك مزی یو تر بله تړل شوی دی .

دادب داظهار دپاره ژبه یوا لخنۍ آله ده او که دا آله دا قدرت ونه لری چه د لیکونکی دزړه نری نری د قایق اظهار کړی ښکاره ده چه ناقصه ده او باید عایق و گڼل شی ' یا باید یوه ناوړه آله ورته وویل شی . دروم ژبه تر یو نانی ژبې زیږه او ساده وه له همدی کبله کله چه اینوس (Ennius) زیاروایست چه یونانی مرکب ادب په رومی ژبه او وحشی ژبه راولی بریالی نشو له بده مرغه اوسنی غربی ادبی نقد (Literary Critcism) دی ته ډیره لیزه یاملرنه کړی چه د فلا اوژی له نظره دژبی تاثیر پرادبیاتو و پاتی ' لحینی ژبی دلحینو رقیقو احساساتو ' هیجانو او حالاتو دپاره هیڅ نوم هم نلری .

نوټ: څرنگه چه دمقالې په سر کښې هم گوته ورته ونیول شوه ددی مقالې لو مړۍ برخه پخو اخپره شوی وه او پاتې برخه هم اری چه بیا به یې په کومه بله گڼه کښې و لولیء .

دډرامی تفسیر

اغلباً دنطاقی او خبرلوڅی
دصنف ډیره په زړه پوری برخه
هغه ده چه عملاً د ډرامو
دجوړولو او مینځ ته راوستلو
دپاره وقف شوې وی. پدی کښې
هم شك نشته چه په اکټ او
تمثیلولو کښی کوم هغه کار
چه په ښه شان سره ډایر کټ
شوې وی دذاتی او شخصی برمخ
تګ او انکشاف د پاره یو ډیر
قیمتدار تمرین ګڼل کیږی
اکټ کول دنطق او خبرلوڅی
دتفسیری مرحلی او دور ډیر
عالی هنر او کومك دی. کوم
وخت چه تاسی اکټ کوی پدې
وخت کښی تاسې داسې کرکټر
تصویر وی چه هغه له نورو کرکټرو
سره اړیکی او تړون لری، او په
تمثیلی شبیه کښې تاسې دیوه اکټر
په څېر له دغو کرکټرونو سره
یو ځای د حوادثو له مینځه
تیریږی او حرکت کوی.
همداشان تاسی دیوه اکټر او
ممثل په جامه کې په دغو
کرکټرونو کښې اغیزه کوی

او ددوی بمقابل کښې حساسیت
څرګندوی. نوله دی کبله
دوجود ټولی منابع او استعدادونه
لکه غږ، حامی، څیره او خارجی
وضعیت دتمثیل او اکټ کولو
په وخت کښې پکار اچول کیږی
او ورڅخه کار اخستل کیږی.
اکټ او تمثیل ښائی چه ترهغی
اندازې پورې بشپړ او مکمل
وی چه دکتونکو په سترګو
کښی تاسی دهغه شی یا چا، رښتینی
او حقیقی کرکټر و مومی
کوم چه ئی تمثیل کوی یا په
بله ژبه دا کټ کولو په وخت
کښی ممثل باید دکتونکو او
تماشاچیانو په نظر پوره هغه
شی یا څوك ورشی چه ممثل ئې
تمثیل کوی.

پدی برخه کښې هم دژوندانه
دنورو برخو په څیر مهارت
یوازی او یوازی دډیر مشق او
تمرین له لاری لاس ته راتلی شی
دتمثیل په تخنیك باندی حاکمیت
موندل هم هغومره اهمیت لری
چه لکه څرنګه چه یوه موسیقیدان

ته دموسیقی او ساز په تخنیك
باندی حاکمیت لری. لکه
څنګه چه په موسیقی کښی یو نفر
زده کونکی دزده کړی په
لومړیو ورځو کښی دیوی ښی
پارچی دغږولو د هیلی حق
نه لری دغه ډول دتمثیل او لوبو
دزد کړی په لومړیو مرحلو کښی
هم یو زده کونکی مخکښی له دې
چه دتمثیل په تخنیك ځان ښه
پوه کړی، او حاکمیت پرې و مومی
نه شی کولای چه په عملی ډول
سره په یوه لوبه کښی ښه
اغیزه ناك رول و لوبوی.
د تمثیل دظریف او نفیس هنر
دمطالعی دپاره دخبرو او ناطقی
روزنه ډیر بنیادی اهمیت لری
کوم وخت چه تاسې وغواړی
ددغه هنر په مطالعه لاس پوری
کړی دا به درته څرګنده شی
چه دناطقی اساسی تربیه او
روزنه له تاسی سره ددغه مطلب
سرته رسولو کښې څومره
مرسته کوی. که چیرې یو سړی
وغواړی چه دا کټ په یوه کورس

کې لحان شامل کړی خودخبرو
کولو په برخه کښې کومه
بنیادی تربیه ونلری مخکښې
لدی نه چه په لوبو کښې عملاً
برخه واخلی د کورس له خوا
دوی مجبور ښځی چه باید لومړی
دخوهفتو د پاره د صحیح غږ
ایستلو او خبرو او څې لمړین
وکړی . او یه ښه شان تنفس
وکړی او دخپل آواز د آهنګ
دپاره په خپل لحان کښې درست
مخارج ومومی او دغو ښتنی
سره سم د خپل غږ آهنګ
هسك او تیت نری او دد کړای
شی . دالحکه چه یو کمزوری او
نری لوړ او زیږ غږ د عادی ورځو
له خبرو اترونه د دریځ پر سر
باندې دیر متمایز او داوریدونکو
دپاملرنی وړ ګرځی ، بل کوم
شی چه داکټ په کورسونو کښې
برسیره په پورته شیانو هرومرو
باید زده کړل شی هغه په مناسب
دول سره پل اخیستل لحان په
موازنه کښې ساتل او په آسانتیا
او وقار سره تګ دی . داهم ددې
دپاره چه په دریځ باندی هر
حرکت له لوبغاړی نه څرګندیږی

دهغه حرکت ښه او بد تاثیر په
نندارچیانو باندی د برزیات وی
یو یوك او بی لطافته وضعیت او
ناوړه رفتار چه په بوه ښه او
روڼا دریځ باندی اجرا کیږی
دهغه انعکاس بالکل دوه برابره
شی او په پای کښې به په دغه
کورس کښې به ښه او صحیح
شان خبری کول زده کونکی
نه وروښودل شی لحکه دا نشی
کېدای چه دیوه ستر دراماتست
عالی افکار دی په نامربوطو
اوماتو ګودو الفاظو او ضعیفه
منطقوی بیاناتو باندې افاده شی.
الف ، ګونګه لوبه : داکټ
یو خوله دیرو مهمو تقاضاؤ نه
دیو داسې قابلیت درلودل دی چه
دیر زیات نظریات او هیجانات
په دومره وضاحت او صفائی سره
وښودل شی چه تماشاچیان
هیڅکله هم اکتر و نه بیزنی
بلکه هغه څوك ئی وبولی چه دهغه
برلحای تمثیل کوی یعنی کوم
وخت چه دیوه ګدا رول لوبوی
باید تاسو داقابلیت ولری چه
د ګدا هیجانات او نظریات په
داسی مهارت تمثیل کړی چه

داکټ په وخت کښې مو خلك
اصلی شخصیت هیر کړی او پر
دریځ مو یو ربښتینی ګدا وبولی
ددغسې قابلیت لاس ته راوړل
دا ایجابوی چه باید په خپله لحان
غږ او آهنګ باندی بشپړ
کنترول ولری خپل آواز مو
داسی وروزی چه هره شیبه
تغییر ورکړای شی حرکات
وضعیت او جسمانی وضعیت مو
باید دیر آزادانه او له هرخپل
قید او اجبار نه خالی وی. هیڅ
شی مو باید ساختګی نه وی .
بلکه باید طبیعی او سی .
برسیره پر دغه قابلیت داکټ
نفیسه صنعت ایجابوی چه باید
یو نفر لوبغاړی دیوه خلاق فکر
او ابتکاری تصور خاوند هم وی
چه دلته مونږ لدی څخه بحث
نه کوو او داخبره به به رنلو نکو
بحثونو کښې وشیږو. او س به
په دې لحای کښې تش یوازې
پردی مسأله باندی خبری وکړو
چه د طبیعی اکټ دپاره خپل لحان
باید څرنګه له تصنع ، قید او
اجبار نه آزاد کړو ، او ددې
آزادولو وسیله څه ده. ترکومې

اندازې پوری چه ثابته شوی ده
ددې مقصد لاس ته راوړلو دپاره
یو اځنی موفق او مؤثر
تمرین عبارت له ګونګۍ
لوبی نه ده :

البته ددی خبرې عمده دلیل
چه ګونګه لوبه داکټ دزده
کولو دپاره ډېر عالی مشق دی
دادی چه هر وخت هم په خبرو
اوهم په حرکاتو کښی مبالغه
اوتېری تر ډېری لږی اندازې
پوری منی له کوم اکټ سره چه
خبرې نه وی نو اکټ باید پخپله
تردی اندازی پورې صراحت
ولری چه دغلطۍ امکان ور کښی
نه وی هر حرکت باید پرته له
خبرو دیوه هیجان او نظریې نه
په وضاحت سره نمایندګی وکولې
شی. دا یوه منلې خبره ده چه
ددې دپاره نطاق پخپل ځان
د نطق دتمرین په وخت کښې
مبالغه کول مفید او ګټوروی
ترڅو چه په خپل ځان کښې هغه
قابلیت ولری چه دهغه قابلیت
ترسیوری لاندی وکولی شی خپل
آهنګ ته دخپل ارادې سره سم
تغییر ور کړی. دایجاب په وخت

کښې خپل لحن، آهنګ
او حرکات پخپله خوښه
هری خواته اوپه هره اندازه چه
وغواړی. هسك او تیټ او زیر
اوبم کړای شی البته داهم په
دومره طبیعی ډول سره چه تصنع
هیڅ پکښې نه وی محسوسه.
مخکښی له دې څخه چه یوه ګونګه
لوبه طرح کړیء په یوازی توب سره
خپله کوټه کې یوه اندازه وخت
دیوی لوبې هغی برخې ته وقف
کړیء چه په آینده کښې به تاسې
هغه برخه په دغې لوبه کښی
ولوبوی ءدلته کوښښ وکړیء چه
خپل ځان بالکل په همغه حالت
کښې فرض کړیء دمثال په ډول
داګمان وکړیء چه یوه لوبه
کښې تاسې دیوه بدبخته زاړه
درویز ګررول لوبوی لومړی
هغه وکړی چه داتکی درك کړی
چه یو نفر رښتینی بدبخته په عمر
زوړ درویز ګرڅرنګه احساس
کوی او په څه ډول خلکو ته
څرګندېږی، پخپل ځان کښی
دهغه حالت تصور وکړیء چه تاسی
ددغه ګدا په څېر دټولې ورځې
دپاره یوازې یوه ټوټه وچه او

پوپنك وهلې ډوډۍ ولری.
دومره کافی موپه ځان کښی
نه وی چه دژمی له سړونه موبچ
کړی. دشپی دپاره دیوې جونګړې
هیله هم نه وی درسره اوپه دې
فکر کښې واوسیء چه شپه به چېری
تېرویء؛ ترټولو نه مهمه خوداده
چه په ټولو کائناتو کښی ددغه
ګدا دپاره دهیلی وړ هیڅ شی هم نه وی
اودا امیدهم ونه لری چه یوه ورځ
به دده دغه فقر او بدبختی په ښه
ورځ باندې بدله شی او دښې
ورځې مخ به ووینی هر کله چه
موځان دد غسی یوه مخلوق په
ځای وګانه او دده درونی
هیجانات او احساسات موپخپل
ځان کښی تولید کړای شونو که
پس له هغه که ممکنه وی ټول
دغه کوائف او حالات دیوی
لوئی آینی پرمخ دبسیطو حرکاتو
په اجرا کولو سره خپل ځانته
وښییء کله چه مودغه حالات په
بیلو بیلو لارو کښې دخپلو
اجرا آتو په ذریعه تجربه کړل
نو بیائی تر وروستیو تفرعاتو
پورې تجزیه او تحلیل کړیء په
دې ترتیب چه وګوری آیا تاسو

خپل ځان په کافي اندازه دعمر
له حیثه زوړښو دلای شي آیا
ستاسو او زی لکه د یوه زاړه
درویزه گرو تلی دی؟ لاس موسنگینه
تگ موورو ورو او په تکلیف
سره دی؟ آیا داښکار ولای شي
چه هر گام چه اخلي هغه په ډیره
سختۍ سره او چتوي؟ که چیرې
پر دغه تمثیل ځینې شیان نور هم
له ځانه علاوه کړي لکه گوډ
گوډ تگ، سر ډیر خوځول، لاس
ریږدول نو دغه لو به به مونوره
هم لا پسی ځلانده او ممتازه کړي
وي. پس له دینه دمخ خوانه توجه
وکړي چه دجبهي خطوط مو څرنگه
دی او د کوم حالت نمایندگي
کوي؟ مخ مو گونځي کړي دی
که یه؟ شونډی مو ښکته زوړندی
دی که څرنگه؟ آیا له ستر گونه
مو دبد مرغۍ او خوارۍ نښي
څرگندي دي او که یه؟ دا کټ
د تمرین په وخت کښي مو هر وضعیت
چه غوره کړ تر ډیره وخته پوري
هغه وضعیت او قواره وساتي؟
او په انتقادي ډول سره گرد
هغه شیان چه ئي په خپل رول
کښي تصویر وي تجزیه او تحلیل
کړي تر هغي اندازي د دغه
وضعیت مشق وکړي څو چه موټول
حرکات پکښي یو له بل سره
مربوط او منظم شي او د تصنع
او قید له حالت څخه ووزي او
هیڅوک پري د مبالغي او ساختگي
وضعیت گمان ونکړي بلکه
بایدرټ یو طبیعي حالت غوره
کړي. که چیري مو وکولای شو
چه د گونگو لوبو د مطالعي
د پاره خپل لږ څه وخت وقف کړي
کوښښ وکړي چه نه یوازي
د یوه درویزه گرر د رول تمرین
او مشق کړي بلکه دغسي د ډیرو
کرکټرونو وضعیت او قواره او
درونی حالات د ځان سره تمرین
کړي ځکه چه دغه شان تمرینونه
د رښتیني رول لوبو لو په وخت
کښي ستاسو د پاره ډیر گټور ثابتیږي
دادي مونږ د مثال په ډول دلته
ځیني انفرادي گونگي لوبي چه
تمرین ئي له گټي خالي نه وي
گرانو لوستونکو ته وړاندي کوو.
۱- یو زوړ بزگر یا یو بزگره
یا یو مهاجر چه په یوه محکمه کښي
ولاړ وي او دومره توان هم نلري
چه د قاضي په خبرو پوه شي. یوه
مرموزه ویره ئي په زړه کښي پیدا
شوې وي او دا فکر ور سره وي
چه څه یو هیبت ناکه شي به پیښ
شي. اوس تاسو قاضي د دهقان
د عکس العمل له رویه تصویر کړي
یا په بل عبارت د قاضي په مقابل کي
د بزگري د عکس العمل او د دي
عکس العمل له مخي د قاضي وضعیت
ځانته تصویر کړي.
۲- یو وړوکي زلمي هلك
چه په متهیج ډول سره لوږي
اخستي او د یوه زړه لړزونکي
فلم تماشا کوي.
۳- یو دانرژي خاوند متعلم
چه د فوټبال د لوبي تماشا پداسي
وخت کښي کوي چه او به خپلي
وروستنۍ او قاطع مرحلي ته
رسیدلي وي.
٤- داسي یو زلمي چه له
کومي ښکلي بېغلي سره
د کومي ننداري سیل ته ور رسیدلي
او د تیاتر په وره کښي ټکټونه
ورځني ورك شوي وي.
٥- یو سړي چه د غاښو د ډاکټر
پر چوکۍ ناست وي او

ددې انتظار باسی چه پس له څو دقیقو به ئی به خو له کښی دډاکتر له خواڅه کش وګیر شروع شی.

٦- یو عصبی سړی چه اخبار لولی او په یر له پسی ئې دراډیو لوړ اواز ربړوي نو په پای کښی دغضب په حالت کښې اخبار یوې خواته اچوی او په قدم وهلو شروع کوی.

٧- یو سړی چه غواړی څه ولوبوی مګر چه یو مچ ئې ځوروی دی په لومړنیو مرحلو کښې دومره پروانه پری کوې خو په پای کښې دومره مجبوره شی چه راپاڅی او مچ راونیسی او مړئې کړی.

٨- یوه بې عقله تند نویسه ښځه تصویر کړیء چه یو سړی املاء ورته وائی خو ددې فکر ټول خپل ځان او خپلی قواری ته دی او دخپلی وظیفی سره څه علاقه نلری. املاو یونکی تر یوې اندازی پورې املا په کراره ورته وائی خو کله کله مجبور شی توقف وکړی تر څو څه فکر وکړی. ددې سړی داخلی او باطنی احساسات په همدی وخت کی تمثیل کړیء چه څه حال لری

٩-: یو صبور او خون ګرمه کب نیونکی چه د یوه ماهی دپاره انتظار باسی تر څوئی په دام کښی کښېوزی.

١٠- یو موټر وان چه د موټر چلولو په موده کښی دماشین ځنی داسې اوازاوری چه ګوندې څه خرابی وریښه شوی ده څومره چه مخ کښې درومی ګوری چه اواز لا پسې خراپېږی او په پای کښی مجبور شی چه موټر ودروی او ماشین خلاص کړی او نقص ئی پیدا کړی چه چېرته دی.

١١- یوه پېغله چه غواړی نوې نڅا زده کړی.

١٢- یو ډارن سړی چه غواړی له یوی تیارې کوڅی نه تیر شی څو ځله وړاندی ولاړ شی خو بیا بیرته راوګرځی تر څو ئې پولیس وینی او ورسره مرسته کوی.

١٣- یو نفر بندی چه محکمی ته وړاندی شوی او دخپل سرنوشت دفتوی اوریدو ته ولاړ دی په پای کښې اوری چه دمجرم حکم پری صادر شوی او جزائی یا عمری قید یا خو په برقی چوکۍ مرګ دی.

١٤- یو نفر چاپلوس دکاندار چه غواړی خپل مراجعه کونکی خوښ کړی.

١٥- یو نفر زده کونکی چه په یو کیمیاوی لابراتوار کښې خطرناکه تجربه کوی.

١٦- یو سړی چه په یوه یوازی خونه کښی ناست وی (اغلباً دشپې) او څه لولی او دفعتاً یو بل سړی کورته ورننوځی خو سړی ئې په ستر ګونه وینی. هغه تشویش چه د کور خاوند ته پیدا کېږی هغه وضعیت چه د کور خاوند ددروازې په لور روا نیږی او داسړی پیدا کوی، یا دهغه بل سړی وارخطا کیدل او تېښته تصویر کړیء.

١٧- یو نفر متعلم چه په یوه موضوع باندې څه لیکی، دهغه الهام اخستل؟ کلم ښورول، بیا فکر ټولول او ډیر څه لیکل او دخپل لیك او طرز اظهار عقیدی څخه دهغه راضي کیدل او خوشحالیدل.

١٨- د هغه سړی حالت چه سړو او بوته دلامبلو تیاری کوی کله او بوته نژدې کېږی

او کله بیرته شاته درومی څو په پای کښې او بوته ور لوېږی او خوند ورځنې اخلی .

۱۹ـ پداسی حال کښې چه مو د کورنۍ ګړندی موټر وران کړی دی ، پلار موهم په دې پېښه خبر دی ، او اجازه موهم نه درلوده چه موټر بوزیء کوټې ته ننوتل او خپل پلار سره د ملامتۍ په حال کښې مخامخ کیدل .

۲۰ـ دهوټل دپیش خدمت رول چه درانده د رانده پتنوسونه پورته کوی او د خپلو میلمنو خدمت کوی . په تیره بیا دیوه داسې میلمه خدمت کول او هغه ته ژر ژر ور تلل او پوښتنه ورځنی کول چه له هغه نه دیوه ښه بخشش هیله کیږی .

۲۱ـ داسی کمیس اغوستل چه ډیر تنګ وی او تنۍ ئې په سختۍ سره تړل کیږی .

۲۲ـ پداسی حال کښې چه کورنۍ مو په ځان وی خپل څیرې لستونی ګنډل .

۲۳ـ په سینما کښی ناست یاست یو تصویر چه پاره و نکی دی غواړی چه وئې ګوریء خو په مخ کښی یو بل سړی مانع کیږی . هر وخت چه تاسی ځان ورته برابر کړیء ، سړی بیا وښوری او ستاسو مخه بنده کړی .

دښاغلی (نیازی) لیکنه او ترجمه:

دبیدیدلو او خوب لیدلو په برخه کښی علمی تحقیقات او

اوژورې څېړنې

دبیدیدلو او خوب لیدلو موضوع چه نن زمونږ دپاره هم علمی او هم یوه حیاتی موضوع ده، په دی مقاله کښی د پسیکولوژی، فیزیولوژی او بیولوژی له مخی په ډېر پاخه او اساسی ډول سره څېړل شوی ده.

لیکوال په دغی مقاله کښی دپسیکولوژی د ډېر نومیالی پوهاند (فروید) دنظریاتو سره سم دخوب لیدلو اصلی علتونه په ډېر ښه ډول سره څرګند کړی دی. دی په پای کښی دی نتیجی ته رسیدلی دی چه مونږ کولای شو خوب تفسیر کړو، مګر تعبیرئی (په عامیانه اصطلاح) مطلق غلط دی. ځکه یوازی دتیرو پېښو په شاوخوا راڅرخی نه دا چه دی دراتلونکو پېښو څخه خبر راکړی او استازی دی شی. له دی ځایه ده چه مونږ دغه مقاله سره له خپل اوږدوالی دکابل مجلی په همدی ګڼه کښی خپروو او ښاغلیو لوستونکو ته ئی دلوستلو بلنه کوو. (اداره)

دانسانی ټولنو غړی دلومړی سرنه، کله چه د یوی معمی سره مخامخ شوی دی او هغه ئی په آسانه سره نه ده حل کړی په دوو برخو ویشل شوی دی. دغو دوو ډلو هری یوی دخارجی عواملو او فردی او طبقاتی منافعو تراغیزی لاندی، دوه ډوله فکر کړی دی. یوی ډلی دغه معمی څرنګه چه وه هم هغسی ئی بلله او زړه ئی پری ورکاؤ. اما بلی دغه معمی یو اشکال او حل ئی هم ممکن باله، نو ئی له همدی کبله دهغو وسائلو په واسطه چه ئی په لاس لرل دحل دپاره کوشش کړی دی. له همدی ځایه ده چه فکری اختلاف دافراد و، طبقو او حتی ولسونو ترمنځ شروع شوی دی. همدغه علت دی چه ځینی په تصوف او خرافاتو پسی تللی او ځینو دتحقیق علم دځان دپاره غوره کړی دی.

باباغورغوری یاتالنده اوس هم دځینو خلکو په عقیده هغه تازیانی دی چه ملائکی آسمان پری وهی، اما د ځینو نورو دپاره داغو رهار دوریځو دسره مشتلو څخه په فضا کښی مینځ ته راځی.

لومړی ډله دغه غورهار دملائکو دهوس نتیجه او پوهه ئی دانسان دارا دی یا فکر څخه لری بولی. مګر دوهمه ډله ئی دیولړ علتونو معلول بولی، ساه پوهنه او پسیکولوژی دلرغونو مهالونو او زمانو څخه یوه له دغو معمی ګانو

څخه ده، او که دارسطو دځینو اشارو او کنایاتو څخه ستر گی پټی کړو، باید داومنو چه دغه علم د علم او تحقیق دنوی دوری یعنی هغی دوری دمیو وڅخه دی چه دبشر تر یوه ځایه پوری خپل خرد خرافاتو دختی څخه ایستلی او په دی باندی گروهیدلی دی چه په ورو وروسره هره معمی حل کولای شو. په دی مبحث کښی کومه برخه چه تر ټولو نه مبهمه او په اسرارو کښی پیلی وه دخوب لیدلو مبحث دی دامبحث په رښتیا سره چه یو پیچلی مبحث هم دی او ددغه سر کشف هم څه آسانه کار هم نه بریښی، او ددی خبری ډیر ستر دلیل هم دا دی چه بشر تر اوسه پوری لا کاملاً په دی نه دی بریالی شوی چه ئی اساس تجزیه او مجسم کړی په نتیجه کښی دهغه اصل له مخی چه دمخه وویل شو بشر دخوب دتعبیر څخه عاجز شو او زیاتره خرافات پسنده خلك د پتنگ په څیر پری راوگرځیدل. ځکه په دی خبره هرڅوك پوهیږی چه په تیرو زمانو کښی ځینی کتابونو کښی څه چه حتی د پاچایانو په تصمیم کښی دی موضوع یعنی دخوب تعبیر ته څومره اهمیت ورکول کیدلو.

په پښتنو کښی اوس هم دا یو څرگند حقیقت دی چه د یوی شپې سودا، او یا خوب لیدل ورپسی ئې تعبیر کول دډیرو زیاتو کسانو څه چه، کورونو او کهولونو مقدرات ورته ټاکی.

دیوې شپې دتیروسو داگانو او یا خوب لیدلو تعبیر، په تیره چه بیا د کومی مجربی بوډۍ او یا بوډا دخواشوی وې، د پښتنو د کورنیو د ژوند په سیر کی تغییر راولی او په ژوندانه یی لوبی کوی ځکه ما پخپله ډیر داسی خلك لیدلی دی چه ئی ویلی «ما ته بیگا پلانی صاحب په خوب کښی راغلی وو چه دا کار وکړه نو باید هرو مرو دخپل پخوانی فکر څخه وگرځم او دا کار سره له دې چه بدرا ته بریښی سرته ورسوم» د لته ده چه دی خپله اراده او مقدرات د یوه موهوم خیال لاس ته، چه پرته دده دور ځنی سودا یا دهغی دترکیب څخه بل څه نشی کیدلای، ور سپاری او پخپل ژوند لوبی کوی:

ویدیدل: څنگه چه دمخه وویل شو، خوب لیدل د پسیکولوژی دمباحثو څخه یوه ډیره مرموزه او له اسرارو نه ډکه موضوع ده ځکه هیڅ کوم ثبت ئی تر اوسه لا په لاس نه دی راغلی چه دهغو په واسطه په دی برخه کښی کار وکړو او نتیجه واخلو یو ازی کومه خبره چه مونږ وربا ندی پوهیږو هغه یا زمونږ خپل په خوب کی لیدلی شیان او اطلاعات دی او یا خو هغه څه چه د بل چا له خوا راته ویل شوی دی.

مگر آیا بیا هم په دغو لیدنو او وینو باندی اعتماد کولای شو؟

کله چه یو پښتون یا پښتنه خپل لیدلی خوب بیا نوی نو بیا وایی: «نه پوهیږم چه چیرته ؤ... خو... نه پوهیږم چه څوك وو...

گمان کوم پلانی ... یا به هغه نه وو.... خو.... »

په دی ډول کومه مثبته اطلاع موږ ته نه شی راته، را کولای او هغه څه چه مونږ پخپله په خوب کښی وینو هغه هم تر دی نه څه زیات او یا موثوق شی نه وی.

نوله دی امله مونږ نه شو کولای چه د دغه لاری نه نتیجه واخلو. بلکه باید د بلی لاری نه دخپل مطلب خواته ورنږدی شو.

اوس نو د دی په بدل چه یو خوب په نظر کښی ونیسو ښایی چه ډیر خوبونه په نظر کښی ولرو، او وګورو چه د دغو خوبونو د اشتراك وجه څه او کومه ده؟

دلته یو عمده مطلب لاس ته راځی، که څه هم چه دغه مطلب پخپله د خوب او یا د هغه د خاصیت په برخه کښی نه دی، اما تر یوه ځایه پوری مرسته را سره کولای شی.

ډیر عمده مطلب دا دی چه مونږ د خوب په وخت کښی خوب وینو. نوله دی امله لومړی باید پوه شو چه وید بدل او یا بخپله خوب څه شی دی؟

دلته ز مونږ خپلو تجربو او د بیو لوژی د علم پرمخ تګ ځینی مشکلات مخکښی له مخکښی راته حل کړی دی.

د خوب په وخت کښی مو د فهم او ادراك قوی د کاره لویږی ځکه د کار په وخت کښی مو کومه انرژی یا قوه چه دلاسه ورکړیده هغه د خوب په وخت کښی د سره تجدید کیږی.

سهار وختی چه د خوب نه را کښینو، تکړه او تازه یو او په ډیر میل (پر ته د ځینو ځایونو یا مهالونو څخه) پخپل کار پسی درومو.

د خوب په وخت کښی مو د ماغزو د عملیاتو ډیره ستره برخه د کاره لویږی، یوازی د ماغزو هغه څانګه او اداره مو چه د ساه ایستلو او د زړه د خوځیدلو کارور په غاړه دی په کار بخت وی.

چه د یوه تن څېره د خوب په وخت کښی د هغه د مرګ و حال ته ډیره زیاته ورته ده، اما کوم تو پیر چه د دغو دوو حالتونو یعنی خوب او مرګ ترمینځه موجود وی هغه د تنې د همدغی پورته برخی کار کول دی.

د خوب او مرګ ترمینځه فاصله د بیهوشی او ضعف حالت دی.

کله که وغواړو چه د پسیکو لوژی او پسیکو انالیز له مخی خرب تفسیر کړو باید و وایو چه انسان اصولا د کار او زحمت څخه بیزار دی او غواړی چه له دغو بړونو او سختیو څخه خلاص وی.

ماشوم د نړۍ څخه نه دی بیزاره، نو ځکه خوب ته هم دومره میل نه لری (۱) د خوب په وخت کښی څرنګه چه د مخه هم وویل شو د بدن واړه برخی د کار څخه نه لویږی.

برسیره د زړه په عملیاتو او تنفسی حرکاتو (د آکسیجن او ایندرید کربنیك بدلیدل) چه د وینې والی د موقع څخه کم وی مګر بیا هم تنظیم کیږی

---

(۱) دا عقیده د ساه پوهنی د ډیر ستر پوه «فروید» عقیده ده چه یی د خوب په برخه کښی ښکاره کړې ده.

تنفس عمیق او نرموی . دزړه
خوځیدل اومړی لنډ او بیاپسی
زیاتهوی، کولمي په کار باندی
لګیاوی. ځان خوله کوی اود
اوښکو او بزاقیه غدو دونه د کاره
لویږی .

اما داچه په خپله ماغزو یعنی
هغه ځای کښی چه هر وسنبز ئی
دروحی اعمالو مرکز بولو دخوب
په وخت کښی څه پیښیږی ؟
باهلته څه تغیرات پیدا کیږی ؟
دا یو ړټ پټ او مبهم رازدی .

دومره پوهیږو چه دوینو
دجریان نقص په ماغزو کښی،
انسان ته خوب ورولی، لاکن
په عکس ددی مدعا درسته نه ده.
په هغو خلکو کښی چه یی طبیب
مغز جراحی کړی دی ، دا
څرګنده شوی ده چه دخوب په
وخت کښی دوینی جریان زیات
او دوینتابه په وخت کښی کم دی
په ضمن کښی کله کله د وینو
دزیاتیدو او کمیدو د فاصلی
ترمینځه ځینی نور تغیرات هم
دوینو دجریان په ډول کښی ایدل
شوی دی چه بنایی هغه دخوب
ایدلو نتیجه و بولو .

ماغزه دخوب په وخت کښی
اصولا کم رنګه وی .

دلته یو بل مطلب هم له مونږ
نه پټ دی او هغه دا چه تر کومو
شرائطو لاندې بایدا نسان بیده
شی؟ یا په ښکاره ډول سره څه
ډول شرائط په کار دی ؟ ددې
دیاره چه انسان بیده شی ؟ آیا
دوینتابه په وخت کښی دانسان
په ماغزو کښی څه شیمیائی
تغییرات پیښیږی او دخوب په
وخت کښی بیر ته خپل اومړنی
حال ته راګرځی او که څرګ؟

آیا دویدیدو په وخت کښی
نوی شیمیائی موادهم په ماغزو
کښی پیدا کیږی او که یه ؟

داخبره څرګنده ده چه
دوینتابه په وخت کښی بو ډول
ځانته سموم ترشح کیږی او
ماغزو اوږینی ته ور داخلیږی
چه دغه ترشح خوب راولی. داسی
چه که دکوم بیخوبه نفر وینه
په کوم بل حیوان کښی ترزیق
کړو، خوب ئی وری .

دخوب په وخت کښی بو ډول
نور ترشحات چه دسم دضد حکم
لری تولید یږی او د پخوانیو
سمومو اغیزه خنثی کوی.
بنایی چه دخستګی بیو لوژیکی
علت به دهمدغو زهرو تولیدوی.
څرنګه چه پوهیږو ډیر زیات
سموم دی چه خستګی او بیهوشی
را ولی لکه مرفین ،
اتر کلوروفورم او داسی نور .

فزیکی او شیمیائی فعل او
انفعالات هم هرومرو دخوب په
په وخت کښی دوینتابه دوخت
سره توپیر لری .

په هرحال دومره پوهیږو
چه دویدیدو دعلتونو څخه یو
ډیر ستر علت خستګی ده . مګر
دغه علت هم کافی نه دی. ځکه
ډیر داسی خلک شته چه خسته
وی او ډیری خستګی نه خوب
نه هم له اندازې نه زیات میل
لری خوخوب، بی نه وری. اما
برخلاف ددی ډیر داسی خلک
شته چه مریض وی او بی دخستګی
داحساس څخه ئی خوب وری؛

یوه بله موضوع هم دبیدیدلو
په برخه کښی ډیر زیاته اغیزه
لری او هغه عبارت ده دهغه دقت
څخه چه زموږ حواس ئی دخارجی
تاثیراتو په وړ لو باندی دادراک
مرکز ته صرفوی .

دعقل نه لږ څه پیاده غوندی خلك او یا څاروی. دستر گو دپټولو سره سم بیدیږي او خوب ئې وړی. حال داچه حساس خلك ډیر زیات و خت دځان سره په جگړه کښی وی تر څو چه ئې خوب ویسی

مثلا کله که یو ځانته ډول غږ دتل د پاره تکرار شی لکه دماشومانو دپاره للو للو ویل او یاد گړی دتیك تاك اوریدل سړی ته ډیر ژر خوب و رولی. د کوټی تودوخی هم په ویدیدو باندې اغیزه لری. مخصوصا ناروغه او کم توانه خلك ددغه عامل تر اغیزی لاندې ډیر زیات ربړیږي. ځینی خلك هم دخپل عادت سره سم بایدپه یوه ځانته ډول سره دپالنگ دپاسه ولویږی که نه وی نو خوب ئې نه وړی.

ځینی داسې خلك هم شته چه یوازی په ځینې ځانته وختونو کښې یی خوب وړی او بل وخت خوب نه پرې راځی.

سمیات هم دخوب په راوستلو کې موثر دی: کوفین (چای قهوه او نور) خوب کموی. دنورو سمیاتو اغیزه لکه الکل او افیون په بېلو بیلو خلکو کښی په بیل بیل ډول ده.

دگیدی ډیر زیات ډکول هم خوب کموی مگر دخوب د کمولو معنی دا نه ده چه په سړی دې خوب نه راځی بلکه درو حیات په اصطلاح دخوب عمق کموی. داده ددی دپاره چه دخوب دعمق یا درانه خوب اصطلاح هم مشکو که نه شی پاتی باید دلته لږ څه ور باندې وغږ یږو.

څنگه چه مونږ کولای شو چه دخوب طول اندازه کړو چه ماشوم ته دمور په نس کښی ۲٤ ساعت او په تی پوری ماشوم ته پرته له هغه وخته چه ئی دتې درود نو او نورود پاره تیروی ۲٤ ساعت او بالغ ته له ۸-۹ ساعته او زاړه له ٤-٥ ساعت خوب لازم دی. دغه ډول دخوب ژور والی یا عمق هم اټکل کولای شو او دا کار په دې ډول سره کېدای شی.

یو تن په کوټه کښی بیدوی او پرته له دی څخه چه دې نوموړی دمخه خبر وی، په مخصوصو شپو کې د ځانته فاصلو څخه یو مرد کی دگومی برنجی تختی پرمخ غور ځوی، د دغه په اثر ویده شوی شخص ښائی ویښ شی او یا ویښ نه شي. په هر حال دده دخوب دروندوالی د هغه مرد کی دلری والی په نسبت چه دبرنجی تختی پرمخ غور ځول شوی دی تو پیر لری.

یعنی دهغه چا خوب چه دیوه مرد کی (چه مخصوص وزن ولری) دغور ځولو په اثر ویل شوی تختی پرمخ دیو متر فاصلی څخه ویښیږی، دهغه چا دخوب څخه دروندوی چه دهمدغه مرد کی دغور ځولو په اثر دنوموړی تختی پرمخ په پنځوس سانتی متره فاصله باندې ویښیږی.

څنگه چه مودمخه وویل هر څوك دخپل سن په نسبت په یوه شپه ورځ کښی څو ساعته خوب ته ضرورت لری، اما دغه قاعده هم کلی نه ده، ځکه ډنگر او هغه خلك چه وینه ئې کمه وی خوب

ته زیاته اړه لری نسبت و نوروته
او هم په ژمی کښی تر دو بی څخه
زیات خوب کیږی .

دغه ډول د اخر کنده ده چه
بی خوبی نه سړی مړ کیږ هم،
وایی د چین په هیواد کښی
د مقصرینو د پاره یوه ډیره قوی
شګنجه همدغه بی خوبی وه .

د یوی شپی بی خوبی تر څو ورځو
پوری د سړی په روحیه باندی اغیزه
لری او هم بی خوبی سړی غمجن
او مغموم کوی . لکه څرنګه
چه زیاتره خو د کشی هم د سهار په
لومړیو ساعتونو کی یعنی وروسته
د یوی شپی بی خوبی څخه
پېښیږی

دادی هغه څه چه مونږ د خوب
په برخه کښی ور باندی پوهیږو،
اما سره له دی هم باید بده
نتیجه ور څخه وانه خلو .
پسیکولوژی او فیزیولوژی تر اوسه
لا نوی علوم دی . خو د علم او
صنعت د پرمخ تګ سره سم
مونږ عقیده لرو چه ټول هغه
شیان چه نن مونږ نه پری
پوهیږو راته څرګندیدونکی
او حل کېدونکی دی. ځکه
ډیر هغه شیان چه تر پرونه
پوری مونږ ته معمی بریښیدو
نن د نویو صنعتی وسائلو په واسطه
حل شوی دی، ښائی وروسته
له دی به داسی اسبابو نه هم
اختراع شی چه د هغه په واسطه
د ماغزو د داخلی انقلاباتو له مخی
د خوب په وخت کښی عکس
واخلو او یا وکړای شو چه
د ماغزو شیمیائی تغییرات
وټاکو.

په هر حال مونږ د نوی علم او
فلسفی په اطمینان چه روح هم
مادی او هر تغییر ئی د مادی
د خواصو څخه یو خاصیت بولی،
عقیده لرو چه یوه ورځ به
واړه دغه معمی ګانی راته حل
شی. خو که بیا هم حل نه شی
نو دا د دی معنی نه لری چه
دی د خوب تعبیراتو ته هم په
فوق المادی قدرتونو باندی قائل
شو. دا ده پخوا له دی څخه چه له دی
مبحث څخه ووزو او پخپل اصلی
بحث یعنی « خوب لیدلو » باندی
پیل وکړو ښایی چه د خوب او
او ویښتابه تر مینځه فاصله
او د ویښتابه او خوب تر مینځه
فاصله هم څه نه څه وخیړو.

ځکه دغه موضوع دلاندی مطالبو
د پوهیدلو د پاره لازمه ده !
ځینی خلک ځنګه چه د خپل پالنګ
لیمڅی، پوزی او یا خوب د ځای
د پاسه په سپېرو خاورو کی
ولوېږی او سترګی ئی سره ورشی
سمدستی ویده شی چه دا نیکمرغی
یوازی د ځوانانو او روغو
خلکو په برخه وی .

دغه ډول خلک د هغو څخه چه د
ویښتابه او خوب تر مینځه پېښیږی
هیڅ کله هم نه خبر یږی. مطلب
دادی چه انتقال د ویښتابه څخه
خوب ته یو نابیره حالت نه دی
او اغلباً انسان په ورو ورو
د دغه دانسته حالت څخه هغه
نادانسته حالت ته ځی .
یو لړ ګدو د تصورات او
عکسونه د سړی په سترګو کښی
ګرځی، تر څو چه بی انسان
د درک څخه رټ عاجز او ویده
شی. څنګه چه ویده شو او دغه
تصورات هم واړه د یاده ووزی
اما د دی د پاره چه د علمی
تحقیقاتو له مخی له دغو قضایاوو
څخه ځان خبر کړو ځینی
خلک په هغی شېبه کښی چه دغه

انتقال عملي کيږي او يا لږ څه وړاندې وروسته د ځانته ترتيبات ويو واسطه و ښيږي او واړه هغه څه چه ، بې ليدلي وي د کاغذ پر مخ ليکي. دغه له وينتابه خوب ته د انتقال حالت مو که په پالنګ کښې نه دی احساس کړی نو په تولګی کښې خو به مو کله چه ښو نکی په لکچر بخت ؤ او يا ملاصاحب ددرېځ په سر خپلې مسألې کولې هرومرو حس کړی وی. ځکه دخسته کن لکچر او يا ر پر و نکو مسألو په وخت کې داحالات تل او نږدې په هرچارانلو نکی دی په دی حال کښې اغلب يوجسماني او هم روحي تغيير راته پيداشي چه له هغې جملې نه ترټولومهم د ستر ګواحساس دی چه پرسيږي او نه سره بيرته کيږي .

په پښتو کښې « له خوبه د کې ستر ګی » دغه وضعيت ډېر ښه تر سيم کولای شي ، روحي تغييرات عبارت دی له دې څخه چه انسان نسبت دخارج دنيا نه يوبل شان وضعيت پيدا کوی ، مثلاً اجسام واړه محوه اوسره خپريږي او خپل اشکال دلاسه ور کوی . ترڅو چه دې برخې نه ورسيږي چه دستر ګو په ورتلو سره واړه شيان له مينځه ځي .

دخوب په وخت کښې سړی عموماً ميل لری چه په افقي ډول پر يو زی امادا هم مطلقاً منع نه ده . ځکه چه ډېر جګړن او کاروانيان دتګ په وخت کښې هم بيدېږی . له خوب څخه وينتابه ته د انتقال هم همدغه ډول دی . البته سالم خلك ډېرژر وينتيږی په داسی حال کښې چه ضعيف خلك (الکليستان او هغه څوك چه په حمله مبتلا دی) او هم « مست بيده » وی. او په اوقات تلخی سره وينتيږی . ولی اصولاً انتقال له خوب څخه وينتابه ته ژر کيږی يوازې هغه خلك چه ئې دخوب عمق کم دی په زحمت سره کولای شی چه ځان دنادانسته حالت څخه خلاص کړی . چه همدغه صدمه ددوی دعصبانيت سبب ګرځی .

خوب ليدل :- تول هغه شيان چه مونږ ته دويدېدو په وخت کښې راپيښيږی او مونږ ئې درك کوو . يعنی د هغو مقرراتو . يادونو احساساتو او تاثيراتو مجموعه چه دويدېدو ياخوب کولو په وخت کښې ورسره مخامخ کيږو . هغه مونږ « خوب » يارويا بولو خو ددې دپاره چه په لفظ کښې څه اشتباه پيښه نه شي په مضمون کښې وروسته له دې « خوب » د کلمې څخه برغه هغه څه ده چه خوب ليدل بلل کيږی او مطلب دويدېدلو څخه هغه حالت دی چه سړی بيدېږی .

څرنګه چه مودمخه هم وويل په ټولو زمانو کښې خوب ته ډېر اهميت ورکول کېدلو او اساسي علت ئې هم دادی چه بشر غوښتل دغه لاينحله معمی په يو ډول سره حل کړی او خوب هم يو ه د پيش بيني وسيله وه ورته . مګر نن کيږی ځکه دالاره زمونږ دپاره يوه کاي ده چه دهغې په واسطه داشخاصو دروحيي ترګمي ته ورننوتی شو

تردی لحایه چه لحینی خلك
له دغی لاری له دلیونتوب څخه
هم ژغورلی شو ،

دا ده یخوا له دی څخه چه
خپله موضوع ته ور نشو ز و
لومړی باید پرته دانسان څخه
نور حیوانات هم مطالعه کړو
او وګورو چه خوب بوازی
انسان وینی او که نورحیوانات
یا ساه کښې هم دغه استعداد
لری؟ دمخه باید داخبره ومنو
چه خوب په ویدیدلو پوری اړه
لری ، او بیا دا و وا یو چه
خوب هغه څوك لیدلی شی چه
ویدیدلی شی کله مو که دا خبر
ومنله نو بیا باید یوې بلې خبرې
ته متوجه شو او هغه داچه دفهم
قوه د خوب په وخت کښې
دویښتابه دمهال سره توپیر لری.

زمونږ د نیو علمی عقایدو
سره سم فهم او ادراك یوازې
دژوندیو موجوداتو دپاره خاص
دی او په دوی کښې هم بیا دهغه
فهم او ادراك زیات دی چه ئې
عصبی سلسله تر ټولو نه ښه او
کامله ده . زمونږ په عقیده
یوازې هغه موجودات فهم او
ادراك یا روحی ژوند لری چه
تشخیص او انتخاب وکړای شی.
آیا کوم ددیرانه چونجی او یا
ستاسود کورد ډنډ ماهی تاسو
پیژنی ؟ نه پوهیږو، مګر یقین
لروچه آس اوسپی ګوتا سوبنه
پیژنی. یوازې دومره وایو چه
دسپی او آس دفهم او ادراك
قوه ډیره ساده او کم رنګه ده.
یایه بله ژبه دآس اوسپی دفهم
قوه زمونږدخوب دفهم اوادراك
قوې ته ورنه ده. له دې لحایه
مونږ ویلای شو چه دخوب په
وخت کښې زمونږ د فهم او
ادراك قوه مساوی ده ددغه ډول
حیواناتو دفهم اوادراك دقوې
سره دویښتابه په حال کښې. یا
که لږ څه تردې نه هم برمخ ولاړ
شو دداروین دعقیدې یادار ونیسم
سره سم زمونږ دنیکو نو دفهم
اوادراك قوه مساوی وه دحیواناتو
دفهم اوادراك دقوې سره.

په هر حال هر ډول روحی
تأثرات ددې مستلزم دی چه په
هر ډول اووسیله چه وی څرګند
شی. دلحینو حیواناتو په برخه
کښې کولای شو داخبره ممکنه
وبولو چه خوب وینی. لحکه چه
دغه روحی تأثرات درغښتلو په
وخت کښې څرګندیدلای شی.
مخصوصاً دښکاری سپا یانو په
برخه کښې دغه خبره پوره
صدق کوی لحکه هغوی بوه
ورځ وروسته تر ښکار څخه دغه
اثرات دلحان څخه څرګندوی
اوممکنه ده چه فکرو کړو چه
دغه حیوان دهغو پیښو خوب
وینی کوې چه ئې یوورځ یخوا
په ویښتابه لیدلې دی د لحینو
نورو حیواناتو په برخه کښې
هم خوب امکان پیدا کولای شی.

ماشومان څنګه چه بشری
تأثرات یکښې څرګند شو و
خوب وینی. دلحینو په نی پورې
ماشومانو خوب هم لیدل شوی
دی. امادوه دری کلن ماشومان
هر و مر و خوب و ینی چه
زیاتره خوبونه بې له وېرې نه
ډك وی. دغه خوبونه لحینې بې
تجربې او پیغلې میندې په وېره
کښې غور لحوی. دبالغو خلکو
په برخه کښې خوب زیا تره
دغږونو اوحرکاتو سره ملګری
وی. امادغه قاعده کلی نه دم

ځکه ډېر داسې خلك هم شته چه دخوب په وخت کښې له اندازې نه زیات متأثر کیږی او خوب وینی، خو هغه ملګری ئې چه له ده سره په یوه کوټه کښې پروت دی نه خبر پیږی. دخوب دنښو څخه یوه بله نښه داده چه دخوب لیدلو په وخت کښې تنفس عمیق کیږی او سړی په زوره زوره سا باسی. په دغه ډول هغه څوك چه ئې خوب لیدلی وروسته دو یښېدو څخه وایی چه هیڅ خوب مې نه دی لیدلی.

اوس نو باید دا پوښتنه وکړو چه انسان همیشه خوب وینی او که کله کله؟ سره له دې چه ډېر وزیاتو لرغونو فیلسوفانو لکه «کلنت» او «لایپزیك» دغه خبره منلې ده. خو څرنګه چه علم په فلسفه نه حل کیږی دوی هم اشتباه کړې ده. ځکه هیڅ کوم داسې دلیل دې ته نه لرو چه انسان دې په ډېر خوازه او درانه خوب بیده وی او خوب دې و وینی. ولې چه په ډېر درانه ډول سره بیدل او یا هغه وضعیت چه نور خارجی تأثرات نه شو پکښې درك کولای، هغه حالت نه ورته دی لکه چه د کلورو فورم په واسطه وې بې هوشه شوی یو، تار وغه دبې هوشی په لومړی سر او یا هغه وخت کښې چه بېرته په حال کیږی ځینې شیأن درك کوی. اما پخپله دبې هوشی په وخت کښې په هیڅ هم نه وی خبر چه دپسیکولوژی له مخې هم دا خبره پوره صدق کوی دمخه مو د «فرویدی» عقیده دو یدېدلو په برخه کښې څرګنده کړه، دا ده اوس به دا وګورو چه نوموړی ستر عالم دخوب لیدلو په برخه کښې څه وائی.

دی وائې: «مونږ له دی عالم نه دزړه تورن والې له امله او هم تر نور وارتې قوانینو لاندې بیدیږو. خو نړۍ سره له دی هم لاس نه راڅخه اخلی او خارجی عوامل غواړی چه دخوب څخه مو پاڅوی.

دغه عوامل که پر مونږ غښتلی وو نو مو ویښوی. اما که دغه عوامل کمزوری وو نوئې دخوب لیدلو په واسطه خنثی کوو. له دی ځایه وایو چه خوب دخارجی تأثیراتو عکس العمل دی چه دویدیدلو په وخت کښې راباندې اغیزه کوی.»

په هر صورت مونږ زیاتره دشپې په لومړۍ او یا وروستۍ شومه کښې یعنی دبید یدلو په سر کښې او دو یښېدلو نه دمخه خوب وینو. البته دو یدېدو په مینځ کښې هم خوب وینو خو هغه مو دهیره وزی. داولې؟

دلته ښایې چه لږ څه ځیر شو. کوم علت ددی باعث ګرځی چه مونږ ځینی تېرې پېښی بېرته راپه زړه کوو؟

اغلباً او یا په ښکاره ډول سره تل یو خارجی اثر مثلاً کله که څوکاله دمخه په پلانی ځای کښې یوه پېښه راپېښه شوې وه، ددې پېښی دبیا راپه زړه کېدلو دپاره کافی. ده چه مونږ نن یوشی ولو، که دهغې پېښې سره ډېره نړۍ رابطه ولری و وینو ځکه همدغه نړی تار دی چه مونږ ته دهغې پخوانۍ پېښی داتۍ سر په ګو تورا کوې او

نوله په ستر گو کښې را گرځوی
په هر صورت یوازې یوه
فکری رشته کولای شی چه مونږ
هغه ځای ته ورو کښوی اما کله
که دغه مزی شلیږی یعنی داسې
یوه ځای ته رسیږو چه نور موهلته
فهم او ادراك نه رسیږی نو دهغه
ځای را په زړه کول ناممکنه
دی. له همدې امله ډیر هغه خلك
چه لیونیان کیږي وروسته تر
لیونتوب څخه هغه څه بیا نه ور په
زړه کیږی چه پخوا دلیونتوب
څخه پرې تېر شوی دی. خوب
هم همدغه ډول دی یعنی کله که
مواړیکی دخوب سره قطع شی
یعنی دفهم او ادراك قوه مو د
درانه خوب په وخت کښې له کاره
ولوېږی نور نو هغه څه چه
را باندې تېر شوی وی بیا نه را په
زړه کیږی. په نتیجه کښې باید
ووایو چه مونږ ته هغه خوبونه
را په زړه کیږی چه وروسته
دلیدلو څخه راویښ شوی او بیرته
بیده شوی یو، یا هغه خوبونه را
په زړه کیږی چه دویښېدلو په
وخت کښې مولیدلی دی. سره له
دې چه ځینی خوبونه ډېر زیات
تأثیر را باندی کوی مگر بیا هم
پخپله پوهېږم چه مو ډېر ژر د
هېره وتلی دی، تر دې ځایه پورې
چه دهغې ورځې دغرمی نه وروسته
بیا دلیدلی خوب هیڅ هم نه وی
را په زړه چه علت یې هم همدغه
پورته ویل شوی موضوع ده
او بس.

په پای کښې کوم هغه شی چه
په وېښتابه کښې راته پېښ شوی
او بیائې را په زړه کوو یو خارجی
اثر دی، اما دخوب څخه هیڅ کوم
خارجی اثر نه دی را پاتې. دځینو
حساسو خلکو په ورځنی ژوند
کښې هم شپېنې خوبونه اغیزه
لری او بیا بیا لیدل شوی دی چه
دغه ډول خلك سهار مهال بی له
کوم علت څخه عصبانی او مغموم وی.

دغه خوبونه چه بې مهال
مونږ ته ډېر اوږد برېښی، زیاتره
تر یوې یادوو دقیقو نه زیات
وخت نه نیسی. کوم دلیل چه
مونږ ئې ددغې ادعا د اثبات د پاره
لرو په لاندې ډول دی:

دمخه مو وویل چه خوب
د خارجی اغیزو عکس العمل
دی چه غواړی مونږ دخوب څخه
پاڅوی، یعنی یوه خارجی اثر
باید پر مونږ اغیزه کړې وی،
مثلاً دکومې گړۍ د زنگ
آواز او یا داسی نور،

دلته کوم شی چه زمونږ
دتعجب سبب کیږی هغه دادی
چه مونږ د گړۍ د دغه غږ په اثر
یو ډېر اوږ دخوب لیدلی مگر
بیا هم کله چه ترور او وار خطا
دخوب نه را پاڅېږو گورو چه
د گړۍ زنگ لا نه دی تمام شوی
بلکه لا شرنگیږی.

له بده مرغه دلته مونږ ددې
بحث په ضمن کښې نه شو کولای
چه ښاغلیو لوستونکو ته ددغه
ډول خوبونو یادونه وکړو
ځکه دا مقاله زمونږ یوه لنډه
او اجمالی مقاله ده چه ددغه ډول
بحثونو دځائیدو توان نلری
البته یوازی دومره دپورته خبرې
نه نتیجه اخلو او وایو چه دخوب
په وخت کښې د مهال تاکلو
مقیاس، یعنی څرنگه چه ئې په
وېښتابه کښې دیوې گړۍ
دعقرب سره سم پیژنو، نه لرو او
په خوب کښې دزمان څه چه
دمکان مقید هم نه یو،

البته مطلب دمهال اوځای څخه هغه مهال اوځای دی چه ئې په وېښتابه کښې تصور کوو. که نه وی نو د یوه شی موجودیت پخپله دزمان اومکان مستلزم دی.

څوك ترټولو نه زیات خوب وینی؟

ددې پوښتنې ځواب په قاطع ډول سره مشکل دی، اما دهغو تجربو له مخی چه تراوسه پورې په دغې لاره کښې شوی دی، ښځی ترنارینه وو نه زیات خوب وینی چه په پښتنو کښې نه یوازی زیات خوب وینی بلکه ښځی خوب ته ډېر زیات اهمیت هم ورکوی. ځکه زما داخپله تجربه ده چه ښځی تل سهاری د خپلو خوبونو قیصی کوي او تعبیرونه ئې غواړی.

اما تعبیر کونکی ئې هم بل څوك نه وی بلکه هغه بوډۍ ګانې دی چه ئې په یوه سرسل کورونه وران کړی دی. دوی ځینی بی تجربې او معصومو میندو یا پیغلو ته دخوب نه داسی تعبیرونه راباسی چه ددېوالونو نسه ئې وغورځوی او ټول ژوندئی ورتباه کړی اطفال اوځوانان هم تر زړو خلکو نه زیات خوب وینی. دغه ډول هم عموما حساس خلك او لیکوالان (البته مطلب هغه لیکوالان دی چه دلیکوالی په حقیقی معنی لیکوالان وی نه دا چه مطلب څه ولیکی) تر نورو خلکو نه زیات خوب وینی چه علت به ئې هم ښائې فکر او سوداوی.

په دې خبره هم ګمان کوم هرسړی دخپلو تجربو له مخې پوهیږی چه دځینو سوداګانو او عجیب وغریبو خیالاتو په وخت کښې چه سړی ته پیښیږی دخوب لیدل زیاتیږی.

ددې د پاره چه ښاغلی لوستونکی دافکر ونه کړی چه مونږ پردغو مطالبو باندې چه مو تر اوسه وویل څه زیاتی معمی ګانی حل کړی دی په تیره بیا هغه چاته چه ئې اصولاتو جه پسیکو لوژی ته ده ښائی چه پدی برخه کښې ډېر زیات ځیر شی. وایو چه څه چه تراوسه وویل شو واړه مبهم وو.

مونږ تراوسه پورې یوازی دخوب پرشاوخوار اوڅرخیدو اودغه اصطلاح موهم په ګار واچوله. اما برسېره پر دی چه پدې نه پوهیږو چه دخوب په وخت کښې څه شیمیائی تغییرات او انقلابات زمونږ دفهم او ادراك په مرکز کښې پیښیږی. پدې هم نه پوهیږو چه کله چه مونږ وایو «خوب موولید» رښتیا موهم خوب ولید یا داچه خوب مو بوی یا حس کړ یا موو اورېد. یا موو څاکه.

د «خوب لیدلو» اصطلاح څه غلطه نه ده استعمال شوې، ځکه هغه څه چه دخوب په عالم کښی راته پیښیږی واقعا هم هغه وینو او نور حواس مو د قضایاوو درسولو په برخه کښې دفهم او ادراك مرکز نه لږ برخه اخلی. هغه څه چه مونږ په خوب کښې وینو نیت مګر څرګندوی.

لکه داچه یو لړ پیښی زمونږ ترستر ګو شوی دی، خو څرنګه چه تیاره ده پوره نه دی راته مفهوم شوی او یوازی یوه بیجلۍ ددغی تیارې سیمی ځینی برخې راته رڼا کوی او پرې موپوهوی.

په خوب کښې موهر څه تر

ستر گو رنګین راځی یعنی په ویښتابه کښې مونږ نه شو کولای چه اشیا رنګین تصور کړو او که ئې و کړو هم نو په ډېر و سختۍ سره به وی.

په داسی حال کښی چه دغه کار په خوب کښې ډېر آسانه او بی تکلیفه وی،

شیمیائی تاثیرات موهم دخوب لیدلو دډول په برخه کښې اغیزه لری.

وروسته د تریاکو دخوړلو څخه دوېده توب یا پرېښانۍ په وخت کښې داسې یو حالت په انسان راځی چه انسان خوب وینې چه الوزی او دځمکې دجاذبې قوه بلکل له مینځه ځی.

د خوب په تعبیر (مطلب دخوب تفسیر دی، نه دعوامو په نظر تعبیر) کښې به ووینو چه همدغه دجاذبه قوې له مینځه تلل په شهوانې تأثراتو پورې څومره اړه لری. په هرصورت ددغه ډول مسمومو خلکو خوبونه راڼه او برعکس دروغو خلکو خوبونه محدود او مشخص دی.

مثلاً مونږ خوب وینو چه په هرات کښې یو، امادغه زمونږ دخوب دعالم هرات د رښتینی هرات سره هیڅ ورته واله نلری اشخاص هم زمونږ په نظر کښې همدغه ډول دی. مونږ پوهیږو چه ښاغلی پلانی مو بلار دی اما په حقیقت کښې ددغه ښاغلی او زمونږ دپلار ترمینځه هیڅ ورته واله نشته دی.

ددې دپاره چه ښه پوه شو چه مو خوب ترکوم ځایه جړپړ او سره تیت دی دا لاندې مثال باید ولولو:

پخپله ماته اتفاق پېښ شوی وی چه مې خوب لیدلی او سمدستی راویښ شوی یم. خوب مې لیکلی دی اما هغه څه چه سباسهارته زما په نظر کښې پاتې دی د لیکنې سره هیڅ توپیر نه لری. مګر کله کله رټ ورڅخه متباین وی. ددې دپاره واضح شی چه مو خوب ولې تر دې اندازې جړپړ او سره تېرو بېر دی، تصویرونه او تجسمات دسینما دیروې سره تشبیه کوو، چه په ډېره چالاکۍ مو دستر گو څخه تېریږی.

البته مونږ نه شو کولای چه واړه دغه تصویرونه سمدستی د فهم او ادراک مرکز ته ورسوو، په نتیجه کښې دهغه څه څخه چه زمونږ دستر گو څخه تېر شوی دی یوازې یو څه پیکه شی مو په مغزونو کښې خپل نقش پرې ایښی وی. هغه څوک چه یې پخوا د بیدېدو څخه دمیو پیالې په سر اړولی دی او یا هغه څوک چه ډېره سخته تبه لری دغه تصویرونه ترنورو څخه سره تیت او جړ وینی.

کوم شی چه دسړی توجه ډېره زیاته ځانته وراړوی هغه دادی چه په خوب کښې دخلکو حرکات هم نه وینو بلکه تصویرونه مو دستر گو څخه تېرېږی.

دا تصویرونه داسې نه دی چه دی دښۍ خواڅخه راشی او په چپه دې ولاړ شی بلکه یو په یو مو ستر گو ته راشی او بیا سمدستی سره خپاره شی.

لامسه حاسه مو په خوب کښې ډېره لږ په کار لوېږی، خو سره له دې ئې هم عمل محال نه دی پخپله ماته یوه پېښه راپېښه شوې ده چه حکایت ئې بېځایه نه بولم.

په هغه وخت کښې چه د «فرانکن اشتاین (۱)

فلم په سینما کښې ښودل کېدلو، یوه شپه مې خوب ولیدو چه همدغه فرانکن اشتاین، مګر په ډېره لوړه ونه، دومره چه زمونږ د کور په دروازه کښې نه شو ننوتلی، دشاوخوا خپل لاس راته را اوږد کړ او وې غوښتل چه خفه مې کړی، زه د کوټې څخه وتښتېدم او تر ځمکې لاندې ننوتم. لاس ځمکې لاندې راسره راغی او ستونی مې کېښکو دو، څنګه چه د خوب نه را پاڅېدم یعنی هغه وخت چه مې د دغې بلا دلاس فشار پخپل ستونی حس کړ، ومی لیدو چه سپی مې کوټی ته را ننوتی دی. لاسونه ئې دپالنګ پرځنډه ایښی اوغواړی چه بړستن مې راڅخه کش کړی. دغی دبړستنی کش

زما دستونی سره هم څه اسطبکاك پیدا کړی او زما د دغه مهیب خوب باعث شوی دی. دامطلب باید په خاص ډول سره ذکر شی چه د دې دپاره چه خارجی اثرات زمونږ ماغزو ته ورسیږی باید حتی الامکان قوی او شدید شی. لکه څرنګه چه دبړستنې څرښېدلو زما د ستونی سره دفرانکن دلاس شکل پیدا کړی ؤ کله هم د اسی پېښېږی چه دخوب په وخت کښې په څه شی لاس و وهو او یا دې څو لاس را وړی خو مونږ ئی حس نه کړو.

مثلاً ګورو چه لاس مو په اور کښې ننوېستلی دی مګر نه سوځی. پرته دلامسه حاسی څخه، نور حواس هم لکه، شامه او یا ذائقه ډېر په ندرت سره په خوب کښې تأثیر کوی او کله که امکان پیدا کړی بې دخارجی تأثیر څخه هم کیدای شی. کله کله هم امکان لری چه یوشی بوی کړو. پرته له دې څخه چه مو په رښتینی ډول سره دهغه بوی احساس کړی وی. مثلاً امکان لری

چه یو ګل بوی کړو بې له دې څخه چه مو بې دعطرو احساس کړی وی.

سامعه حاسه هم ډېره لږ حساسه ده، اما په هرصورت مونږ یوازې دخارجی عواملو په واسطه نغوته کوو. البته څرنګه چه وویل شو له اصل نه قوی او شدید مثلاً دیوه واړه شی دلګېدلو غږ په بل شی باندی ښائی دتوپ دانفجار د غږ په څېر یو غږ راته وبرېښی او هم ممکنه ده چه دتوپ لمبه ووینو پرته له دې څخه چه ئې غږ واورو.

دخوب په عالم کښې برسیره پردغو تأثیراتو، روحی تأثرات هم راته پېښېږی، په تیره بیاله وېرې ډکو خوبونو کښې چه هرچاهم یو نه یو پلا لیدلی دی.

اما دلته باید اشتباه ونه کړو، خوب زمونږ دروحیې تابع دی نه په عکس دهغه یعنی کله که مونږ په خوب کښې ووېرېدو او یا غمګین شولو. بخوا مو دڅه شی نه وېره لرله او یا مغموم وو. عکس ددی صحیح نه بلل کیږی که نه

(۱) د «فرانکن اشتاین» فلم دیوه طبیب د سرګذشت قصه ده چه ئې یوسړی را ژوندی کړی دی یعنی دیوه انسان ککرۍ ته یې بیادسره «ساه» ورکړه اتفاقاً دغه ککرۍ چه طبیب پرې کار کړی ؤ دیوه جانی وه او اوس دغه نوی انسان چه فرانکن اشتاین نومیږی غواړی د خپل خالق څخه انتقام واخلی.

وی نو مخالف ددې مطلب کیږی چه مودمخه وویلو : خوب دخارجی عواملو تر تأثیر لاندی مینځ ته راځی .

برسیره پردی تاثراتو هغه څه چه مونږ ته دخوب په وخت کښی را پیښیږی ور سره بی علاقی یو اماد روحی تاثراتو اساسی علت مود خوب په عالم کښی تر یو ځایه پوری جسمانی او کله کله هم روحی تاثرات دی. مثلا یو نری دزړه درد او یا دزړه تپاك . دسړو وهلو له امله دسپږمو بندښت، په سرو ېږدی باندی دسر ناراحتی، دتناسلی الاتو ډکوالی او یا داسی نور واړه لاهم پسی قوی او شدید شی او روحی تاثرات را کښی پیدا کړی .

په خوب کښی تر تولو نه مهم روحی تاثر ویره ده چه علت ئی زیاتره دساه بندیدل وی او انسان فکر کوی چه دادی خفه کیږی په دی ډول مهالونو کښی یوازی یوه چغه انسان د بلا څخه ژغوری. دتعجب ځای دادی چه کله کله په دغه ډول خوبونو کښی هم سړی خوب وینی چه دخلاصون یوازنۍ لاره ویښوالی دی.

له ویری ډك خوبونه اغلبا دتناوبی خوبونو له جملی ګڼل کیږی . یعنی یو ځانته خوب په معینو فاصلو مثلا هره هفته یا هره میاشت په هم هغې لومړنی بڼه تکراریږی .

او ددی علت هم ناروغې ده چه انسان ور باندی مبتلا شوی دی.

برسیره دویری پر احساساتو کله کله سړی په خوب کښی پریشانه ، خجول ، خشمناك عصبانی او حسود کیږی هم مګر دتعجب ځای دا دی چه په خوب کښی سړی هیڅ تعجب نه کوی. او هیڅ نابېره هم سړی ته وجود نلری . کله زیاتره خلك قصه کوی چه پلانی امام، پیر یا صاحب ئی په خوب لیدلی او ور سره ګړیدلی دی. پرته له دی څخه چه اظهار وکړی چه کوم تعجب ور ته پیدا شوی دی او یا دا چه دغه خبره ور ته نابېره وه .

علاوه پر دغو عواملو چه هر یو په جلا توګه سره تشریح سوا و په مونږ کښی دخارجی اغیزو په واسطه پیدا کیږی . واړه هغه قضایا چه ئی په خوب وینو پرته له ځینو سمبولونو (نښی او مظاهر) څخه دروځی دقضایاؤ او پیښو یو بی شکله تصویر دی چه دورځی راته پیښیږی.

له بده مرغه چه مونږ نور په دی مقاله کښی ددغی موضوع په برخه کښی نه شو غږیدلی ځکه دا مطلب دخوب دتفسیر او د فرویدیسم دعقایدو په برخه کښی دی .اما غواړو دا نتیجه ور څخه واخلو چه برخلاف دهغه چه په پیړیو پیړیو دمخه تصور کیدلو او یا په پښتنو کښی نن هم یوه عقیده ده. خوب دآینده څخه مونږ ته خبر نه شی را کولای. **هیڅ سر نه شی راته کشف کولای او اصولا تعبیر هم نه لری.**

برخلاف د دی کله که فرویدیسم ومنو باید اعتراف وکړو چه خوب دتیر مهال یو لړ مطالب راته تشریح کوی یعنی هغه څه چه کومه ورځ راته پیښ سویدی او اوس مو د فهم او ادراك نه پټ او مستور یا په بله ژبه په تحت الشعور کښی دی، دسره راته څرګند وی.

نتیجه هغه قضایا چه په روح کښې د ویښتا به په وخت کښې تولیدیږي یو اثر چه ډول ئې کاملا نه دی معلوم په ماغزو کښې مو پریږدي . دغه آثار ښائي چه یو دبل سره اړیکې ولري او یوه قضیه د بلې قضیې د تولید باعث په روح کښې وګرځي.

تجسم او راپه زړه کول په ویښتا به کښې پخپله د شخص دارادي په مرسته پوري اړه لري په بیدیدلو کښې خارجي آثار لکه .(غږ، فشار او نور) او یا داخلي لکه: د وینې فشار، شهواني هیجانات، ویره او نور) ممکنه ده چه د دغو آثارو د بیا تولید باعث وګرځي چه هغه خوب بولي.

نو خوب د تیرو پیښو محصول وي نه د راتلو نکو پیښو علامات او یا زیري .

کولای شو چه خوب تفسیر کړو اما تعبیر ئې رټ غلط دی یعنې کولای شو چه د خوب د ډول څخه تیر روحي حالت وڅیړو . د فروید د عقیدې سره سم د هر شدید میل د پاوه (په تیره بیا شهواني میل چه ډیر قوي میل دی) سړي ځانته شیان په خوب وینې . فروید دغه شیان سمبول (مخصوصه نښه یا علامه) بولي.

البته د خوبو نو سمبول د بیلو بیلو ولسونو د افرادو ترمینځ د هغوی د عادت له مخې سره متفاوت دي ،

د خوب تفسیر باید د سمبولو و په مرسته سره وشي .

په پای کښې ژور مطالعات د خوب په باره کښې واضح کوي چه: خوب هم د تولو روحي قضایا وو په څیر یوه کاملا مادي قضیه ده ماوراء الطبیعه قوي څه اغیزه نه بري اري او دا ځکه چه مادیون پخپله روح هم د یوې ځانته مادي خاصه بولي چه په ځانته زمان ، مکان او شرائطو کښې ظاهریږي .

پټه خزانه او دخلقو خبرې

له دې عنوان لاندې یوه مقاله د ګلستان دوهم کال په پنځمه ګڼه کښې خپره شوه چه په هغه افغانی هیئت پورې اړه لري چه پروسږ کال میونخ (مونشن) ته د خاتیخ پژند ونکو کنفرانس ته ورغلی وو. پدې مقالې کښې لیکلې دې چه د ایرانی هیئت یوه غړی ښاغلی د کتور معین ښاغلی حبیبی ته ویلې دې چه افغانی هیئت په میونخ کښې ویلې ؤ چه پټه خزانه حبیبی له ځانه جوړه کړیده او دده جعل دې.

پدې خبره حبیبی خپل ډېر خپګان ښکاره کړی او ددې خپګان معنی داده چه افغانی هیئت په رښتیا د اخبره کړیده او په رښتین توب کښې ئې هیڅ شك او شبه نشته، که اوریدنکی د افکر کړی وای چه یو افغان دخه دپاره دخپلې ادبی او تاریخی وثیقې په باب بې له کوم دلیله دملې ګټې برضد له یوه ایرانی سره دزړه خوا له او نجوی کوی یقینا به دغومره نه ؤ په قار او خبر واحد به ئې لکه مشهور او متواتر خبر نه ګاڼه.

زه پدې نه پوهیږم چه ده ته ولې پدغه خبره کښې هیڅ شك او تردید پیدا نشو، داهم ما ته نه ده معلومه چه یو عالم شخص څنګه یوه خبره که فرضاً (فرضی محال) چاورته پټه غوندې به خصوصی ډول کړی وی له یوه ځایه بل ځای ته سوغات وړی.

دغه راز خبره خو تر اوسه هیڅ افغان د کوم علمی یا ادبی تحقیق په ډول په کوم کنفرانس یا په کومه جریده او روزنامه کښې نه ده کړی که چیری له چاسره دغه راز کومه اشتباه موجوده وای هر ګوره به ئې خپل فکر او نظر څرګند کړی ؤ او غوږ نه (سر ګوشی) ته به څه ضرورت نه ؤ.

زه په دغه باب کښې همدغومره وایم چه دافغانی هیئت یو غړی زموږ او هیڅوك دا جرئت نشی کولی چه دا خبره په ما پورې وتړی او دا هم به ایمانداری وایم چه زما کوم ملګری هم ښاغلی دا کتر معین ته زما په مخکښې دا خبره نه ده کړی او نه دپټې خزانې په باب کومه خبره په دغه کنفرانس کښې طرحه شویده.

دافغانستان یوهانو او لیکوالو هیڅ یوه تر اوسه کوم هك او تردید دپټې خزانې په باب په افغانستان کښې نه دی څرګند کړی نو په یوه بل ځای کښې به ئې بل چاته څنګه او دخه دپاره څرګند وی.

په همدغه اساس چه پټه خزانه یو موثوق او معتبر ادبی اثر ګڼل شوی دپوهنې وزارت رسماً په تدریسی پروګرام کښې منلې دی او په پوهنځیو کښې ئې تدریس کیږی.

ما تر اوسه دې خبرې ته څه ضرورت نه دی لیدلی چه دپټې خزانې د صحت او ثقه توب د اثبات دپاره څه ولیکم او دچا دشك او تردید مدافعه وکړم که دغسې نه وای ښائی چه ما به ددې کتاب په قدامت او واقعیت څه لیکلې ؤ او د کتاب په املاء انشاء، لغوی او ګرامری خصوصیاتو او په تاریخی خواؤ به می څه رنا اچولې وه مګر زه او س همدغومره وینا کافی ګڼم چه افغانی هیئت دهیئت په حیث «معین» صاحب ته دغه خبره نه ده کړی او که دهیئت له غړو نه کوم یوه، ما یا بل هغه ته په خصوصي ډول دغسې ویلې وای ښاغلي راوی به دهغه نوم له خولې نه، نه وغورځولی او دخپل روایت دثقه توب دپاره به ئې خبره له ابهام څخه ایستلې وه.

لوه غزلونه

دا حسینه پری مسته پرخوا راغله !

که و مخکی نه سپوږمۍ د سما راغله !

په رونتوب زما دا و ښکو شبنم نه دی

غنچه خوله چه د ګلرخ په خندا راغله

د جنون ځنځیر مې پر پوت و ګردن نه

چه په زړه مې ستا د زلفو سودا راغله

چه دی تیغ د غمزې وا چاؤ و څنګ نه

زه هغه ساعت شوم پوه چه قضا راغله

په ژړا به مې لمن لنده وی د پره

که څر ګنده مې په ستر ګو شها راغله

«خانګل» ګل د مضمون تول ترهسی حد کړ

چه بلبله د پارس په ژړا غله



بیلتا نه دې دغمو په چپاو چور کړم

په نیارو کښې د هجران ئی له تادور کړم

د فراق پری مې پر پوت و مړی نه

په جهان کښې ئې رسوا لکه منصور کړم

په وصال دی هم نا ښاد یمه دلبرې !

د بیلتون فکر په زړه کښې نا صبور کړم

د بنو غشې مې و خوړ په ځګر کښې

غمازانو په غمزو غمزو مهجور کړم

خلق یاد زما د عشق په لیونوک

زه «حسین» محبت هسې مشهور کړم

په دې ورځو کښې چه دهر چاسره کښېنې دو کالت بحث کوی او هر سړی وایی چه دشور او کیل بایدیو پوه، هوښیار، پاك، دردمن او... سړی وی.

که ددې خلکو نه پوښتنه وشی لکه څوك ؟

نو کوته به خپلې سینې ته ونیسی او وبه وایی :

لکه زه !!!

ماداقصه وکړه ببرك «ځالحی» وویل :

زمونږ په خوا کښې یو سړی ؤ، هغه به ویل په دی ورځو کښې دلته درې تنه بزرگان پیدا شوی دی چه دډیرو کراماتو خاوندان دی چا به چه ورته وویل چه څوك دی ؟

هغه به ویل: یو پلانکی دی او بل پلانکی . .

که چا ویل چه درېم ... ؟

هغه به وروسته له څه ځنډ ه ویل :

« ماخلك یادوی ! »

زمونږ په وطن کښې داسی خلك ډېر دی چه پخپلو مبار کو لاسونو هیڅ کولی نه شی او مقدس ماغزه ئی هم له هرڅه نه پاك وی خو په خوږه ژبه ځان هرڅه ښودلی شی او په هرځای کښې چه دهر کار

دپاره څوك په كاروی دی ځان وړاندې كوی او تر اعلان دمخه ځان په دې الفاظو كاندید وی چه :

لكه زه !!

زمونږ كه څه یادوی او كه نه ، كه څه هم كولی شو او كه نه دمفرد متكلم منفصل ضمیر هره گړۍ گردانوو او دگټی دپاره د «ته» او «دی» پر ځاې هم ناري وهو چه ، زه! زه!!

كه په لارو ، كوڅو كښې چا سره روان ئې نو هغه به په هر چا پورې وخاندی چه دهغه كمیس لنډدی او ددې بالاپوش اوږد ، هغه كوږ روان دی دانیشه گرځی آبل كلانكار دی ، كه ووایې چه څوك دی چه هر څه ئې سم دی او په لاره سم ځی؟ دی به در ته ووایې : زه؟؟

داسی خلك كه تل كاږه گرځی گرځی به ، او دچنگاښ غوندې دزمانی په طور تگ دمحیط تقاضا بولی ، د «مار» غوندی به تل كاږه روان وی چه د كوم «مقام» دروازی ته ورسیږی رسا ننو ځی او سم شی. دلوی سړی په مخكښی ملاډیره كښه كړي او دهغه د ډیرو ستاینو نه وروسته دیو او بل په بدو یلر خوله بیرته كړی پر تو لو بدو خبرو بیا دغسی پرده وغوروی : «ته یو ښه ، صادق او خوش باوره سړی ئی»

هغه كسان چه د وطن درد په زړه كښی لری باید تا سره همكاری و كړی ....او مونږ باید تا یوازې پرې نه ږدو.

په‌وروستۍ جمله کښې د زه، پرځای ئی «مو نږ» ترخولی

راوزی ځکه‌چه د گرامر نه ئی یوازی داقاعده‌زده‌وی چه دمفردې

صیغې پرځای دجمعی استعمال‌دتعظیم معنا ور کوی .

ځینی خلك بیاپه‌دې‌وضعیتونو باندې ډیرانتقاد کوی اووایې؛

ټول‌خلك شهرت طلبه‌شول ،د کارخلك او بیکاره نه‌معلومیږی

هرڅوك ځان‌هر کاره ښیی، هرسړی وائې «زه‌یم!» خبرې ډیری

شوی او کار هیڅ !!

دد غسی روان تقریرنه وروسته که‌تاسوته داسو دا پیدا شی

چه‌هغه سړی چه‌داسی نه‌وی ،یعنی شهرت‌هم نه‌غواړی ، خبری هم

نه کوی او کار کوی څوك دی ؟

نودی به‌په یوچم ناپوه کړی چه :لکه زه ...

لنډه داچه ته‌هم‌وائی ،بل‌ئی‌هم وائی اوزه‌ئی‌هم‌وایم چه‌وطن

پوهو ،د کارخلکو اود ایثارخاوندانو ته‌ډیراړدی ، که‌دا پوښتنه

وشی چه‌لکه څوك؟ نوته‌به‌هم ووایی لکه‌زه ''.بل به‌هم و وائی

لکه‌زه ..، زه‌به‌هم ووایم لکه‌زه ... ،

مرغلری

کومې مرغلرې ؟

هغه چه نه د سرمایه دارانو سره شته او نه د سرکار په خزانو کښې موندل کیږی .

هغه چه نه ئې د دریاب په صدفونو کښې ځای شته او نه ئې ابر بهار ځان سره گرځوی .

هغه چه نه د دنیا بازارونو ته عرضه کیږی او نه بر سر بازار خرڅېدلی شی .

هغه چه څوك ئې د خزانې ورپوری کوی او یوه دانه ئې هم چاته نه ورکوی او څوك ئې سر تړلی خزانه د ښکلو د مینې په جوارۍ بایلی .

دا خزانه زړه دی چه درازونو په مرغلرو ډك دی .

* * *

دا خزانه څوك د سرو اوشنو په مینه ډکه کړی ، څوك پکښې بتان زدی څوك ئې بیا د خرو او غویو تصویرونه په دیوالونو ځړوی څوك ئې په مینه څوك ئې په وینه ، څوك ئې په الفت او څوك ئې په نفرت څوك ئې په کودړو او څوك ئې په مرغلرو ډکوی ...

بهځینو داسی خزانو کښی دخالق اومخلوق دمینی بیش قیمته جواهره پراته وی .

کله کله دسوز او گداز اورهم پکښې والګیږی ، لـه ډیر تاوه ستر گوته راشی ، ستر گې دزړه قدرته هومره تـاب و نه لری ، دبیقدری خاوروته ترې توی شی .

دزړه دخزانی نه ووزی اوهلته وغورځیږی چه نه ئی بیا څوك لیدی شی او نه ئی دبیر ته جگولو په چل پوهیږی .

بنیادمان ، خره ، غوایی اوڅاروی ئی هره گړی تر پښو لاندې کړی .

ځینی ریا کاران دغو مرغلروته دسمال ونیسی اوغواړی چه دخوښی دمحافلو دپاره امیل ترې جوړ کړی .

ځینی بیا کټ کټ ورته وخاندی او ترې تېرشی .

دآرزو گانو ډېری مرغلرې دغسی خاوری شوی اوخاوری کیږی .

له مرگه خلاصون شته ؟

یوماهیگیر ته چا وویل : پلاردې په څه شی کښې مړدی ؟

ماهیگیر : په سیند کښې .

سړی ؟ نیکه دی څنگه مړ شو ؟

ماهیگیر : په سیند کښې .

سړی : اوغور نیکه دې ؟

ماهیگیر : په سیند کښې.

سړی : نو ته ولې دا کار نه پرېږدې ؟

ماهیگیر: نو ته ووایه چه ستا پلار په څه شی کښې مړشو ؟

سړی : په کور کښې .

ماهیگیر : نیکه دې څنګه مړدی ؟

سړی : په کور کښې :

ماهیگیر : اوغور نیکه دې .. ؟

سړی : په کور کښې .

ماهیگیر : نوته ولې دا کور نه سپږې ؟

اخلاص او محبت:

مینه هغه عاطفه ده چه لږه ډېره په نورو حیوانا تو کښې هم شته او په انسان کښې ډېره قوی ده .

مینه چه دقوت مرحلی ته ورسیږی نو اخلاص ترې جوړشی.

داهغه مقام دی چه خپل ټول مو جودیت دمحبوب نه ځار اوبا په هغه کښې محوه و کړی .

دمطلوب وصال دپاره هرراز کړاو په ځان منلی شی اوبه دغه

لیار کښې د مرګ شربت به ډېر خوند څښې او دغه جام به ډېر رندانه جرعت په سرا روی .

دا داخلاص او محبت هغه لوړ مقام دی چه هر بوا لهوس او تن پرور ئی به اهمیت پوهېدی نه شی .

زه پخپله ځم !!

یوه هوښیاره ښځه وه ، د زمانی ډېر ظلمونه ئی لیدلی وو ، ډېرو مودونه ئی وروسته مېړه وکړ ، مېړه ئی زر ناجوړه او مړ شو بل ئی وکړ ، هغه هم دلومړی پسی ولاړ ، دریم ئی وکړ ، خو بیا کونډه شوه ، دا لحوا نه وه څلورم مېړه ئی وکړ ، له بده مرغه هغه هم زر نا روغه شو .

ښځی ورته وویل : که ستا اجازه وی نحم دا کټر را ولم !

مېړه : کوم دا کټر به را ولې ؟

ښځی : هغه چه زما د ټېرو مېړونو په نا روغۍ کښې ئې ډېر زحمتونه ایستلی دی .

مېړه : دهغوی به دا کور خو ښېده نو لحکه د هغوی د ایستلو دپاره دد ا کټر ضرورت ؤ ، زه پخپله نحم دجنازې سرشته وکړه !!

پرېشانی:

دشپې لس بجې وې ، صداقت را ته د تېرو وختونو خاطرې را یا دولې ، د طالبۍ د وختونو قیصی به ئې کولې .

زه پرېشانۍ یووړم . ځان مې په هغه ماجت کښې ولید چه هلته به ما په اوړی کښې سبقونه ویل ، گورم چه هماغسی ماجت په یخولوخو فرش دی ، برسات لګېږی ، طالبان چار چاپېره سپینو سپینو کالو او سوچه سوچه زیرو سره غځېدلی دی ، کتابونه گوری .

په خوب کښې مې د صداقت داسې غږ واورېد: اوس ... سبا به بیا مطبعی ته روان ئې .

داورېدو سره د نظر صحنه بدله شوه ، ځان می په مطبعه کښې په داسی شان غځېدلی ولید چه شا و خوا را ته د تورو سربیو انبارونه پراته دی .

صداقت وویل : ویده ئی ؟

ما سترگې وغړولې ومې ویل : نه ! پر ېشانۍ وړی وم .

ده وویل : نو ما خبرې چټی وکړې ؟

ما وویل : د صداقت خبری بیځایه نه وی ، ستاغږمی اورېده

ده وویل : ته خو ویده وې !

ما وویل : په زړه بېدا روم !

ده وویل : نو نخښه ووایه !

ما وویل : تانه مې واورېدل، کوره پخوا څنګه وې اواوس څنګه شوی ؟

دبېکارۍ بی پرسی ازادی صحنی نه راغلې اود کار دارۍ په مسئولیت کښې ګیر شوې .

ده وویل : بیا هم پوره نخښه دې و نه ویشته .

ماوویل : پرېږده زوراوره، په همدې شېبه کښې مې خوب ولید

ده وویل : په خیر دې وی څنګه ؟

نو ما دخوب قیصه تېره کړه !

ده وویل : غږېدم زه او صحنه بل چادر وښوده !

ما وویل: مانه وو ویلی چه زه په زړه بېدا ریم ! !

اخبارونه او جرائد

اخبار دمحیط آئینه ده، څه چه وی عیناً هماغه ښیی، خبرونه ئی واقعات بیانوی ، اعلانونه ئی دتمدن سوبه څرګندوی، دمقالو

او اشعارونه ئی دعصر دنوبسند گی معیار او ادبی ذوق معلومېږی او دخلکو فکری مقام معرفی کېږی .

دلیکوالو علمی سویه، ددوی ادبی اقتدار او اخلاقی جرءت یا کمزوری له ورایه پکښې ځان ښیی .

اوس به دیو وطن د ټولو اخبارونو د ټولو نشراتونه څوك داټولې خبرې ونه باسی، خو دراتلونکو زمانو مؤرخین دسیاسی مدنی او ادبی تاریخ په لیکلو کښې دجرایدونه ډېره استفاده کوی او په دغه لړ کښې ضرور داپته هم لګولی شی چه :

په دغه وخت کښې په دې ملك کښې د « حق ویلو » کومه مرحله وه ؟؟

مطبوعاتی تبصره

چا وویل : دپلانی اخبار حروف ډېر زاړه دی، هیڅ نه لوستل کېږی .

یو ټو کمار وویل : اوس همدا یو اعتراض پرې کېږی خو که حروف ئی نوی شی او مضامین ئی ولوستل شی نو اعتراضونه به هم سلها ووته ورسیږی !

وینه‌ئی توده‌ده !

گرانه ملګریه !

ولې دومره احساساتی ئې چه کله له ځانه ، کله له مانه او کله له دنیا نه مرور شی ؟ زه چه ستا دښېګڼې دپاره کومه خبره درته وکړم نو درباندې بده ولګیږی اوپه قهر شی . ستا آیندې ته زما ډېره تمه‌وه خواوس رامعلومه شوه چه دیوې ښې خبرې پاستا په تعبیر دیوې بدې خبرې طاقت هم نه لری .

زه پوه یم چه ستا حساسیت ډېر ، خیال دې لوړ او آمال دې اوږده دی . نه هره شیبه د « کلیاتو » نه بحث کوې او تر « جزئیاتو » ښوی تېرېږې . کښکی دومره ملتفت شې چه « کلی » د « جزئی » نه جوړېږی او سیندو نه‌دورو ځاځکو موجونه دی .. اوپه دې هم و پوهېږې چه دهستی پـه لوی سمندر کښې نـه یـو ورو کی ځاځکی ئې .

نه هره ګړی خلك ، محیط ، زمانه او تر ځانـه لوی او واړه ملامتوې خویه ځان باندې دومره خبرې هم منلی نه شې چه خوك درته ووائی : « په سګرتو په بیسی مه سپږه ! » —

نه خبر ئې چه پوه وره غلطی نسبتاً لوروته لوبه ګناه ده !

زه چه ستا مقام پیژنم نو ستا په لمن کښې یو تورداغ زماازره

دا غوی . ته که دلوړې مفکوری خاوندئی نوزمانه در نه په وړو کارو کښې هم عملی ثبوت غواړې .

که رښتیا دجامعې اصلاح غواړې نو ځان داصلاحاتو نمونه کړه !

که اجتماعی خدمتونونه دې ملاترلې ده نو پام لره چه اجتماع له افرادونه جوړه اوته ئې هم یو فردئی . هغسی فرد چه جمعیت ته باید دعمل درس ورکړی او . . . .

* * *

حق تریخ دی او ملګری مې په دې خبرو عصبی شو ' وې ویل : زه اجتماعی انسان یم ' ته حق نه لرې چه زمایه شخصی کارونو کښې مداخله وکړې ' زه انسان یم ' خدای مکرم کړی یم ' ولې را باندې انتقاد کوې ؟

* * *

یوپوه سړی ناست ؤ ' په غوږ کښې ئی رانه ورو وویل: پرېږده زما نه ئی پوهوی ' وینه ئی توده ده !!

یوه قصه

وائی چه په تېرو زمانو کښی یو سپین ږیری دهقان چیرته په لاره کښی دزردالو یو زړی موندلی و ، دهقان سمدلاسه دلاري نه په څنګ هلته ددغه زړي په ښخولو او کرلو پیل وکړ د هغه زمانی باچا په دغه لار تېرېده ، دي سپین ږیری ته ئی پام شو ، غږئي پري وکړ چه کا کا څه کوي ؟ هغه وویل: دلته دزردالو یوزړی ښخوم گوندي کوم وخت ترې ونه جوړه شی .

باچا : (په ډېر تعجب) ترهغه وخته خوته مرې !

سپین ږیری : (په ظرافت) نوته به ئی خوري !

باچا خپله مخه وکړه اودهقان خپل کار ، کورته چه راغی ځوی ته ئي قیصه تېره کړه اووصیت ئی وکړ چه که زه مړشوم اودازړی ونه شوه نودیو کال میوه ئی باچاته یوسه او داقصه هم ورپه یاد کړه ، دهقان مړشو ، زړی ولګېد . ونه شوه ددو بی موسم دی زردالان پاخه دی ، دی ونی ډېر بار نیولی دی ، باچا ښکارته وتلی دی تکنده غرمه ده ، دی ونې ته برابر شو ، یخ سیوری ؤ ، دمه ئی وکړه ، بادڅودانې زردالان غور ځولی وو ، دباچا پام ورته وشو ؛ جګ ئي کړو . ډېرښه زردالان ؤ ، خوښ ئی شوو ، امرئی وکړچه خاوندته

ئی خبر و ر کړیء چه‌دونې ټول زردالان ماته راوړی، زه‌به‌ئې خوشاله کړم.

د دهقان زوی خبرشو، دپلار وصیت ورپه یادشو، دا ښه‌موقع وه د پلار وصیت او د باچا امرئې په‌ځای کړ، باچا ته‌ئی قیصه تېره کړه، هغه حیران او متأثرشو، وې‌ویل تریوسپین زیری غریب دهقان باید زما همت کم نه‌وی، امروئی و کړچه دا زردالان دی‌په همدی مجلس کښی و خوړل شی، زړی ئی په زمیندارو تقسیم‌شی چه و کرل‌شی، مراقبت دی‌وشی‌چه یوه دانه‌ئی‌هم پاته نه‌شی، دی نه‌ئی وروسته د دهقان له‌ځوی نه‌هر کال دهغی ونی زردالان غوښتل او ښه انعامونه‌ئی‌ورته ور کول. او هر کال‌ئی دهغه‌زړی په خلکو کرل.

داشتراك څرنګوالی:

دا مجله په کابل کښې په (٤٠) افغانۍ، دهیوادپه نورو برخو کښې په (٤٤) افغانۍ، په هند کښې په ١٢ کلدارو او په نورو د باندنیو هیوادونو کښې په (٣) ډالره لاس ته راوستلای شیء. دښوونځیو زده کونکو ته نیمه بیه ده.

د اشتراك پیسې په کابل کښې د پښتو ټولنې د محاسبې مدیریت ته او په ولایاتو کښې دهمدې مؤسسې د جاری شمېر په (٧١٨٧) لمبر افغانستان بانك ته سپارل کېږی.

* * * * * * * * * * * * * * * * * * * *

د پښتو ټولنی دسیزکال خپرونې

١ : پښتنی دودونه.

٢ : غوره نثرونه.

٣ : هغه و ویل.

٤ : دبنګ مسافری.

٥ : افغان قاموس دریم ټوك

٦ : کلیمه داره روپۍ

٧ : منتخب اشعار

دولتی مطبعه